بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پيژندنه


**د کتاب نوم:** بانکي محاسبه

**څانګه:** محاسبه

**مولف:** ماری یوسفزی حمیدی

**ژباړن:** نور الله حقمل

**د ځار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزاېي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- عبدالاحمد محمد یار
- محمد خالد جلال

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول :** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** محمد سلیم خان

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

**کډ ISBN:** ۹۷۸۹۹۳٦۳۰۰۵۷٦



د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

Downloaded From AWK Library
awklibrary.com

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی    دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې    هر بچی يې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی    د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو    د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي    پاميريان، نورستانيان
براهوي دي، قزلباش دي    هم ايماق، هم پشه يان
دا هيواد به تل ځليږي    لکه لمر پر شنه آسمان
په سينه کې د آسيا به    لکه زړه وي جاويدان
نوم د حق مو دی رهبر    وايو الله اکبر وايو الله اکبر

# د پوهنې وزير پيغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د يوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پياوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زيار پورې تړلې دی. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هيواد انکشافي اهدافو ته د رسيدو لارې چارې طی کوي او د يوه نيکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمينوي.

انسان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انساني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د يوه سوکاله ژوند د اسبابو او ايجاباتو د تکميل لپاره خپل اغيزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

له همدې ځايه ده چې د يوه ژوندي او فعال انسان نقش، د خپل ژوند د چاپيريال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هيڅ حالت کې نه نفی کيږي او نه هم منقطع کيږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت مسووليت او مکلفيت لري چې د اسلامي ارزښتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانينو ته په ژمنتيا سره، د افغانستان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ستر او سپيڅلي هدف ته د رسيدو په خاطر د انساني ظرفيت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنيکي کادرونو روزنه او پراختيا يو اړين مقصد دی. همدا په تخنيکي او مسلکي زده کړو مزين تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سيستماتيک ډول د هيواد انکشاف محقق او ميسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنيز نظام د اسلام له سپيڅلو احکامو څخه الهام اخيستی، نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي بايد په علمي معيارونو داسې اساس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نسل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړيتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفيت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربيت او په سوچه اسلامي روحيې د هغوی پالنه نه يوازې پخپل ذات کې يوه اساسي وجيبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه يې وژغوري او د نورو له سياسي او اقتصادي احتياج څخه يې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه استادان او مربيون بايد په بشپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نيکمرغه افغانستان ارمان، يوازې او يوازې د دوی په پياوړو متو، ويښ احساس او نه ستړي کيدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنيکي زده کړو له امله کيدای شي په ډيرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصاب له ټولو ليکوالانو، مولفينو، ژباړونکو، سموونکو او تدقيق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهير کې د ټولو کورنيو او بهرنيو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرستو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پياوړو استادانو څخه رجامندانه هيله کوم چې د دې نصاب په ګټور تدريس او فعاله تدريب سره دې د زړه په ټول خلوص، صميمي هڅو او وجداني پيکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نيکمرغه، مرفه، پرمختللي او وياړمن افغانستان په هيله

**فاروق وردګ**
**د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير**

# لړلیک


| پاڼې | سرلیکونه | څپرکي |
|---|---|---|
| ۱-۲٤ | د بانکونو تعریف او د هغو موخې | لومړی |
| ۲۵-۳۸ | بانکي اصطلاحات او مفاهیم | دویم |
| ۳۹-۸۲ | د بانکي حسابونو ډولونه Kind of Bank Account | دریم |
| ۸۳ | سرچینې او اخیستنې | |
| ۸٤ | د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام | |

**مقدمه**

د يته په پام سره چې د بانکونو شتون زمونږ په هېواد کې ستراهمست لري نو دا هم ويلی شم چې بانکونه په هربل هېواد يا افغانستان کې له مهمو اقتصادي زيربناؤ څخه ګڼل کيږي لکه چې څرګنده ده په ټول اقتصاد کې مهمې زيربناوې د اقتصادي امتداد غوره وسيله ده، نو که چېرې بانکونه او يا بانکي نظام په يوه هېواد کې شتون ونلري اقتصادي وده هم په آسانۍ سره نه رامنځ ته کيږي.

په حقيقت کې بانکونه نه يوازې د اقتصادی پروژو د تحويلوونکو په توګه ګټوردي بلکې د اقتصادي پروژو مهمه سرچينه هم جوړيدلی شي. په دې معنی که چېرې يوه فابريکه يو بل سکتور ته پور ورکوي نو په حقيقت کې ددغه سکتور په رامنځته کيدلو کې مرسته کوي، ترڅو خپل توليدي فعاليتونه په ښه ډول ترسره کړي او زيات کاري ځوانان استخدام کړي؛ نو له دې وجې ويلی شو چې بانکونه ديوه هېواد د اقتصادي رکن په توګه پېژندل کيږي.

پردې سربېره، بانکونه ترتيبي اغېزې هم لري او خلک خپلې سپماوې او امانتونه د بانک له لارې ترسره کوي؛ نو پدې اساس بانکونه د يوه هېواد د پرمختګ مهم مظهر دی.

بايدووايو چې دغه پرمختګ د بانکدارۍ په برخه کې هغه وخت عملي کيږي چې له يوې خوا پدی برخه کې محصلين وروزل شي له بلې خوا عالي ادارې رامنځته شي او هغوی ته روزنه ورکړي، د حسابداری او ادارې انسټيټيوت د علمي موئسسو په چوکاټ کې د محصلينو د ښوونې او روزنې دنده په غاړه لري او دعالی او ځوانو استاذانو په توګه يې ټولنې ته وړاندې کوي. لکه څرنګه چې بانکي محاسبه د ادارې او حسابدارۍ له مهمو مضمونونو څخه ده، نو پدې اساس ددې درسي کتاب موخه همدا بانکي محاسبه ده.

پدې کتاب کې ټول موضوعات او معلومات لکه د بانکي محاسبی دندې، معاملات او بانکي حساب، او بالاخره دمالي فعاليتونو ترتيب او راپور ورکول د ګټې او ضرر په چوکاټ کې په هر اړخيز شکل سره څيړل شوي دي. په لومړۍ برخه کې د بانکونو پېژندنه، موخی او دندې تر ارزيابۍ لاندې نيول شوي. په دويمه برخه کې د کتاب په اصلي مطالبو او محتوی باندې زياته رڼا اچول شوې او د بانکي محاسبې مفاهيم او اصطلاحات هم پکې درج شوي دي. د سنجش له طريقه د بانکي حسابونو پرانستلو شرايط او د بانک عمومي محاسبه په پام کې نيول شويده په څلورم څپرکي کې په قيمت لرونکو اسنادو او اسعارو پورې اړوند معاملات چې د بانکداری په نظام او تجارتي معاملو کی رول لري ترڅيړنې لاندې نيول شوي.

څرنګه چې د ټولو بانکی عملياتو توضح او د مالي بانک د فعاليت د راپور برابرولو طرز او د معلوماتي ټکنالوژۍ لاسته راوړنې د بدلون په حال کې دي، نو دا ناممکنه ده چې مونږ د ټولو مسائلو ټول اړخونه پدې کتاب کې را ونغاړو.

په درناوی

ماري يوسفزۍ حميدي

**د کتاب ټولیزه موخه:**

د سمو فعالیتونو د تنظیم په برخه کې د معلوماتو زده کول دي، چې د ګټې په موخه سرته رسیږي.

## د بانکونو تعریف او د هغو موخې

**ټولیزه موخه:**

د بانکونو د دندو او موخو پیژندنه.

**د زده کړې موخې:** د دې فصل په پای کې له محصلینو نه هیله کیږي چې لاندې موضوعات توضیح کړای شي:

- لومړنی جوړ شوی بانک او دندې یې.
- د ماهیت له مخې د بانکونو ډولونه
- د بانکونو مهمې دندې
- د معلوماتي ټکنالوژۍ له منځته راتګ سره د نوي بانکي سیستم معرفي کیدل

### ۱- د بانکونو تعریف او موخې

هغه لومړنی بانک چې د لومړي ځل لپاره یې په کار پیل وکړ، په اولسمه او اتلسمه میلادي پیړۍ کې په انګلستان کې منځته راغی او وروسته په ګړندۍ توګه دنړۍ ټولو برخو ته پراخ شو. په لومړي سر کې د غو بانکونو د پیسو د تبادلې دنده پر غاړه درلوده او له هغه وروسته یې په تدریجي توګه د پولي حواله جاتو په ورکولو او د ربعې په مقابل کې په قرض ورکولو باندې هم لاس پورې کړ.

د شلمې پیړۍ له پیل څخه په پر مختللیو هیوادونو کې د بانکي نظام اړتیا په جدي توګه مطرح شوه. له بانکي نظام څخه مقصد هغه حالت دی، چې د یوه هیواد بانکي

سازمان د یو لړ معینو مقرراتو او قوانینو تابع وي. د یو هیواد اقتصادي پرمختګ او پراختیا پرته له یو معین بانکي نظام څخه ناشوني دي.

په لنډه توګه نن ورځ بانکي فعالیتونه خورا زیات شویدي او هیوادونه د بانکي نظام په چوکاټ کې کولای شي د یادو شویو فعالیتونو بیلابیل ډولونه تنظیم کړي. د افغانستان د پیسو او بانکدارۍ قانون بانک، په لاندې ډول تعریفوي: بانک له هغې موسسې څخه عبارت دی، چې اصولاً د اشخاصو نغدې واجب الادا او ودایع (امانت) تر لاسه کوي او د عامه قرضونو د ورکړې او سرمایه ګذارۍ په موخه یې کاروي.

د نړۍ په سطحه لومړنی بانک په ۱۶۹۴ زکال کې د انګلستان په هیواد کې تاسیس شو او لدې وروسته لاندې بانکونه د نړۍ په بیلابیلو ځایونو کې جوړ شول:

۱- ۱۶۹۴ – Bank of England

۲- ۱۸۰۰ - French Bank

۳- ۱۹۱۳ - USA FR

۴- ۱۹۳۵ - India Bank

۵- ۱۹۲۹ Afghan National Bank -۱۳۱۲

۶- ۱۹۴۸ - Pakistan Bank

په افغانستان کې تر ۱۳۱۲ لمریز کاله پورې کومې ځانګړې بانکي موسسې شتون نه درلود، پولي او اسعاري فعالیتونه یوازې د انفرادي سوداګرو په واسطه تر سره کیدل، خو په ۱۳۱۲ ل کال کې د پولي ستونزو د حل په موخه د وخت د اقتصاد وزیر عبدالمجید خان زابلي د هلو ځلو په پایله کې ملي بانک د سهامي شرکت په توګه منځته راغی او په ۱۳۱۴ ل کال کې یې د بانکنوټونو د نشر وړتیا هم ترلاسه کړه. په ۱۳۱۸لمریز کال کې د افغانستان بانک یعنې د افغانستان مرکزي بانک تاسیس شو او له هغې نیټې څخه راوروسته د نورو بانکونو انتشار د مرکزي بانک دنده وګڼل شوه.

د ملي بانک او د افغنسان بانک له تاسیس څخه وروسته لاندې بانکونه د بیلابیلو اهدافو د تعقیب په موخه منځته راغلل:

۱۳۲۶ ----------- د تعمیراتو او ګروۍ بانک

۱۳۳۳ ----------- د کرنیزې پراختیا بانک او پښتني بانک

۱۳۴۴ ----------- د صنعتي پراختیا بانک

۱۳۵۵ ----------- د صادارتو د پراختیا بانک

دغه بانکونه په دولتي او یا مختلط شکل جوړ او د اویایمې هـ ش لسیزې له پیل څخه یې د وخت د اقتصادي لزوماتو په چوکاټ کې د هیواد په داخل او خارج کې خپلې څانگې پرانستې او په منظمه توگه یې د اساسامي په محدوده کې فعالیت درلود.

په اویایمه لسیزه کې د سیاسي تحولاتو له کبله د افغانستان اقتصاد له رکود سره مخ شو او لدې تحولاتو وروسته په ۱۳۸۱ لمریز کال کې افغانستان د نوي اساسي قانون څښتن شو او د دې قانون په رڼا کې ټولو اقتصادي فعالیتونو، په ځانگړې توگه د بانکدارۍ سکتور پراختیا و مونده او بانکداري د بازار په اقتصادي نظام کې خپل اهمیت تر لاسه کړ او د هیواد د بانکدارۍ د قانون په رڼا کې ورو ورو د داخلي او خارجي پانگوالو په واسطه خصوصي بانکونه تاسیس او په کار یې پیل وکړ او یو زیات شمېر دولتي بانکونه لغوه شول.

یو شمیر خصوصي بانکونه چې په افغانستان کې له ۱۳۸۱ نه وروسته تاسیس شویدي او خپلې نماینده گۍ یې پرانستې دي، په لاندې ډول دي:

۱- کابل بانک
۲- عزیزي بانک
۳- د افغانستان پراختیایې بانک
۴- آرین بانک
۵- د افغانستان بین المللي بانک
۶- میکرو فینانس بانک
۷- نشنل بانک
۸- برک بانک
۹- الفلاح بانک
۱۰- حبیب بانک
۱۱- ستندرد چارټر بانک
۱۲- غضنفر بانک
۱۳- میوند بانک
۱۴- باختر بانک او داسې نور. . .

د هیواد د بانکدارۍ قانون مطابق ټول بانکونه خپل کاري راپور او بیلانس په میاشتني ډول ترتیبوي او بلاخره یې د کال په پای کې د افغانستان بانک د نظارت او څارنې اړوندې

ځانګې ته سپاري، ځکه چې د هغوی له لوري په مستقیم ډول کنټرولیږي، او د اړوندو فعالیتونو پایلې یې تر څارنې لاندې نیول کیږي.

۲-  د بانکونو ډولونه او دندې , Types and duties of Banks

A- د بانکونو ډولونه: د اړوندو دندو له مخې د هغوی ماهیت په لاندې ډول دی:

۱-  مرکزي بانک Central Bank

۲-  تجارتي بانک Commercial Bank

۳-  صرافي بانک  Exchange Bank

۴-  صنعتي بانک  Industrial Bank

۵-  کرنیز بانک Agricultural Bank

۶-  رهنی یا ګروي بانک Mortgage Bank

**B- د بانکونو دندې**

**د مرکزي بانک دندې** Duties of Central Bank: په عمومي توګه په نړۍ کې داسې هیواد نشته، چې مرکزي بانک ونلري. د مرکزي بانک د جوړیدو اړتیا د لومړني نړیوال جنګ په جریان کې را منځته شوه. د پیسو د ذخیروي اړتیا او اقتصادي اعتبار د کنټرول په موخه باید هر هیواد یو مرکزي بانک ولري، چې د لاندې صلاحیتونو او دندو لرونکی وي:

a. **د پیسو د چاپ اوویش صلاحیت لرل  Monopoly of note Issue:** د مرکزي بانک له مهمو دندو څخه یوه هم د پیسو چاپ او توزیع ده.

b. **د دولت د عوایدو را ټولول یا  Banker to the state:** د مالیاتو، ګمرکي محصولاتو او داسې نورو په څېر د د ولتي عوایدو را ټولول، د مرکزي بانک بله مهمه دنده ګڼل کیږي. البته دغه عواید بیا په خپل نوبت سره  د دولت د مصارفو په توګه په مصرف رسیږي.

c. **د بانکونو ایجادوونکی Banker Bank:** مرکزي بانک له خپل صلاحیت څخه په استفادې سره د نافذه قوانینو مطابق، نورو بانکونو ته دتاسیس اجازه او جواز ورکوي او د بانکي قوانینو او مقرراتو په اساس له هغوی سره همکاري کوي او د فعالیتونو نظارت او څارنه کوي.

d. **د پورد ورکولو وروستۍ مرجع یا  Lender of the last resort:** د مرکزي بانک بله مهمه دنده د وروستۍ مرجع په توګه د قرض ورکولو  سرچینه ده. چې دوو مراجعو ته قرضونه ورکوي:

۱- وزارتونه
۲- تجارتي بانکونه

د مرکزي بانک له لوري وزارتونو ته هغه وخت قرض ورکول کيږي چې نړيوال بانک ځيني وزارتونو ته، د مثال په توګه د پوهنې وزارت ته د څو بابه مکاتبو د اعمار لپاره په دريو قسطونو کې د پيسو ورکولو داسې ژمنه وکړي، چې دوه قسطونه يې په لومړنۍ مرحله کې د پوهنې وزارت ته ورکول کيږي او د دريم قسط وخت يې اوږديږي. په دې صورت کې د پوهنې وزارت ياد شوی مبلغ له مرکزي بانک څخه په قرضي توګه اخلي او د نړيوال بانک له لوري د قسط د پيسو له تر لاسه کولو وروسته يې بيرته مرکزي بانک ته ورګرځوي، خو بايد وويل شي چې مرکزي بانک د دغه ډول قرضونو سود نه اخلي. د مرکزي بانک له لوري تجارتي بانکونو ته هغه وخت قرضه ورکول کيږي چې د هيواد سياسي او اقتصادي وضعيت بحراني حالت ته سوق شي. مرکزي بانک د ورته قرضونو په بدل کې له ٣٪ څخه تر ۴٪ مفاد تر لاسه کوي.

**a. په بازار کې د پيسو سرپرستي او د قرضې کنټرول Guardian of money market and control**

د دغې دندې له تطبيق او تر سره کيدلو سره مرکزي بانک په هيواد کې له تورم او پولي انفلاسيون څخه مخنيوی کوي، چې د ټکس يا ماليات د اضافه کولو زياتې ګټې ورکولو، د خارجي اسعارو عرضه کولو او داسې نورو ستراتيژيو څخه استفاده کوي.

**b. د حسابونو تصفيه Clearing House:**

په مرکزي بانکونو کې د Clearing House په نامه يو ځانګړی مرکز شتون لري. په دغه دفتر کی د بانکونو نماينده ګان سره يو ځای کيږي او په خپل منځ کې د پيسو چکونه سره تبادله کوي چې په افغانستان کې تر اوسه پورې دغه ډول اسانتيا شتون نلري او دغه دنده د Afghanistan Clearing settlement system ، ACSS په واسطه ترسره کيږي.

**۲- تجارتي بانک Commercial Bank:** تجارتي بانکونه هغه انتفاعي موسسات دي چې د بانکدارۍ په برخه کې د مجربو اشخاصو له لوري د کار جواز د $ ۵۰۰۰۰۰۰ (او دغه رقم وروسته تر شل ميليونه امريکايي ډالرو هم زياتيدلای شي) په مقابل کې له مرکزي بانک څخه ترلاسه کوي. ددغه ډول بانکونو موخه په هيواد کې له اقتصادي ودې، په ځانګړې توګه د ونډو لپاره د زيات مفاد له تحصيل څخه عبارت دی.

**د تجارتي با نکونو مهم فعالیتونه په لاندې ډول دي:**

۱. د امانت او جاري حسابونو د پرانستلو په واسطه د خلکو د جاري اماناتو او پس انداز را ټولول.
۲. اشخاصو او شرکتونو ته د قرضونو ورکړه.
۳. د اعتبار نامې یا , Letter of Credit توزیع.
۴. د مصؤنیت په موخه د پیسو د کارتونو توزیع کول.
۵. د صرافۍ د ماشینونو د کارتونو یا , A. T. M کارتونو توزیع.
۶. د ماسټرکارت او ویزه کارت توزیع کول.
۷. د چک توزیع کول.
۸. د ضمانت یا ګرنټي کارت توزیع کول.
۹. اسعاري معاملات.
۱۰. د قیمتي اسنادو او ګران بیه فلزاتو ساتل.
۱۱. د قیمتي یا ارزښتمنو اسنادو پیر او پلور.

۳ – **د صرافۍ بانک یا Exchange Bank:** یو شمیر اشخاص په ورته ډګر کې د خپل کار اجازه لیک د پیسو په بدل کې له مرکزي بانک څخه تر لاسه کوي او هدف یې د اسعارو تبادله او د ځینو حواله جاتو اجرا کول وي.

۴ – **صنعتي بانک Industries Bank:** صنعتي بانک د کار اجازه لیک د معدن او صنایعو د وزارت له لارې له مرکزي بانک څخه تر لاسه کوي، چې هدف یې د هیواد صنعت ته وده ورکول دي او دوه ډوله قرضونه ورکوي:

a. **لنډ مهاله قرضه:** هغه شمیر تولیداتي فابریکو ته قرضونه ورکوي، چې خام مواد اخلي او له تولید څخه وروسته یې د کار ټمامه موادو په توګه بازار ته عرضه کوي او بازار ته له عرضه کولو وروسته، د قرضې بیرته ورکول یا بیا ګرځول پیلوي. هغه اسناد چې پدې لړ کې مهم ګڼل کیږي په لاندې ډول دي:

د کار جواز، عواید ، د بېرته ورکولو وړتیا، د اسنادو کاپي او د فابریکي ملکیت.

b. **اوږد مهاله قرضه:** دغه قرضه هغو تجارانو ته ورکول کیږي چې غواړي تولیدي شرکت اعمار کړي او د قرضې اخیستلو لپاره د اړتیا وړ اسنا ولري. د اړتیا وړ اسناد یې د کار له جواز، ۲۰٪ نغدو پیسو، د ځمکې له قبالې، د ځمکې له نقشې، د ځمکې له قیمت، کاري پلان، د تولید له ماشین آلاتو، بیمې، د ماشین الاتو د ټمدید له جواز او د شریکانو

ترمنځ له موافقت څخه عبارت دی. دغه قرضونه د کار له پیل څخه یو کال وروسته بیرته له ۱۲٪ تر ۱۳٪ ګټې سره یو ځای مجرا کیږي.

۵ - **کرنیز بانک Agricultural Bank:** دغه بانکونه د کرنې د وزارت له لارې د کار اجازه لیک تر لاسه کوي او موخه یې په هېواد کې د کرنې له ودې څخه عبارت ده. دغه بانکونه هم دوه ډوله قرضونه ورکوي:

a. **لنډ مهاله قرضه:** دغه ډول قرضونه د اصلاح شویو تخمونو، کیمیاوي کوډ او داسې نورو جزيي شیانو د اخیستلو لپاره ورکول کیږي.

b. **اوږد مهاله قرضه:** دغه ډول قرضونه د پر مخ تللیو کرنیزو ماشین الاتو د اخیستلو لپاره ورکول کیږي. همدا شان دغه بانکونه د چرګانو او مچیو روزنې د فارمونو د تاسیس لپاره هم ورکول کیږي.

۶ - **تعمیراتي بانک Mortgage Bank:** دغه ډول بانکونه د ښار جوړونې د وزارت له لوري د کار جواز تر لاسه کوي، چې هدف یې په هېواد کې د ښارګوټو جوړول او ساختماني تاسیساتو ته وده ورکول دي. د قرض ورکولو شرایط یې د صنعتي بانکونو له شرایطو سره ورته دي. په عمومي توګه د دولتي بانکونو د ایجاد موخه د مفاد لاسته راوړل نه وي، بلکې د زیربینایي پراختیایي پروژو له تمویل څخه عبارت ده. د صنعت او کرنیزو تولیداتو د حجم لوړوالی د ملي عوایدو د زیاتوالي او د خلکو د ژوند د سطحې لوړولو لامل ګرځي.

B - **د تجارتي، صنعتي او بانکي شرکتونو مقایسه:** د تجارتي محاسبې د تدریس فن په لومړنیو سمسترونو کې توضیح شو، چې د تجارتي موسساتو دندې، له مختلفو ځایونو څخه د اسعارو له رانیولو او له کوم تغییر پرته د مفاد د لاسته راوړلو په موخه په لوړ قیمت د هغو له پلورنې څخه عبارت ده. د دغې دندې د ترسره کولو لپاره انفرادي اشخاص، محدود المسؤلیت شرکتونه، تضاميني شرکتونه، سهامي شرکتونه او دولتي تصدۍ فعالیت کوي.

د انفرادي شرکتونو سرمایه په یوه شخص او د محدود المسؤلیت او تضمیني شرکتونو سرمایه په څو معینو اشخاصو پورې اړه لري، خو د سهامي شرکتونو سرمایه یا پانګه په زیات شمیر ونډه والو پورې اړه لري. په یوه دولتي شرکت کې سرمایه ملي بڼه لري او په دولت پورې تړاو لري. سهامي او دولتي شرکتونه د دريیو ارګانونو له لوري اداره کیږي:

الف- مدیره هیئت چې د شرکت عمومي پالیسي طرحه کوي.

ب – د عامل هیئت چې د مدیره هیئت طرحه شوې پالیسي تطبیقوي.

ج – د نظارت هیئت چې د عامل هیئت د اجراااتو څارنه او نظارت کوي.

پدې برسېره په تجارتي شرکتونو کې امتعه خورا اهمیت لري، ځکه د شرکت تجارتي فعالیت یوازې د امتعې په پیر او پلور باندې متمرکز وي. په صنعتي شرکتونو کې هم حقوقي انفرادي، محدود المسؤلیت تضامیني، سهامي او دولتي ډول لیدل کیدلای شي. د صنعتي شرکتونو د کنټرول لپاره پورتنیو یاد شویو درې ګونو ارګانونو ته اړتیا ده. خو د فعالیت طرز او بڼه یې بل ډول ده، یعنې په صنایعو کې امتعه د خامو موادو، معاونه موادو، محرکه موادو په نامه یادېږي. چې له تغییر شکل نه وروسته د کیفیت او کمیت حتا د ماهیت له نظره په نیم کاره او کار تمام ډول عرضه کیږي او خرڅیږي.

نو پدې اساس د محاسبې د عمومیاتو له مخې دواړه شرکتونه یو له بل سره چندان توپیر نلري، بلکې په جزیاتو کې یو تر بله معمولي توپیر لري او دواړه یعنې صنعتي او تجارتي شرکتونه د حقوقي شخصیت له نظره انتفاعي شرکتونه دي، خو د اقتصادي فعالیت له مخې یو تر بله متفاوت دي او د هر شرکت مهمه موضوع د ځانګړیو متشکله فکتورونو له مخې یو له بل څخه تفکیک کیږي.

پورتنیو مطالبو ته په پام سره بانکي شرکتونه د خپل فعالیت په پروسه کې نه له امتعې څخه او نه له خامو موادو یا نیم کاره او کار تمامو تولیداتو څخه بحث کوي، بلکې د مختلفو حسابونو له پرانستنې څخه بحث کوي، د قرضونو له ورکولو او نورو بانکي فعالیتونو څخه یادونه کوي. نو پدې اساس د جزیاتو او خصوصیاتو له نظره د صنعتي، بانکي او تجارتي شرکتونو فعالیتونه یو له بل سره توپیر لري.

له بل لوري، څنګه چې بانکونه د خپلي دارایۍ یوه ستره برخه په نغدې توګه په خپل واک کې لري او یا یې په موقته توګه په نورو شرکتونو کې سرمایه ګذاري کوي. ترڅو له هغې څخه ګټه تر لاسه کړي، پداسې حال کې چې د تجارتي موسساتو امتعه او په صنعتي موسساتو کې د خامو موادو زیرمې د هغوی د دارایۍ عمده برخه تشکیلوي. سربیره پردې د بانکونو د بیلانس په ستونونو کې د سرمایه غیر، دیونونو او داسې نورو اقلامو یادونه کیږي او شخصي سرمایې پکې لږ اهمیت لري. په داسې حال کې چې د تجارتي شرکت په بیلانس کې شخصي سرمایه او سرمایه غیر خورا اهمیت لري.

### ۴-د انټرنیټي بانکدارۍ اسانتیاوې Scope of Electronic Banking:

**انټرنیټي بانکداري څه شی ده؟**

انټرنیټي بانکدارۍ ته Online Banking یا مستقیمه بانکداري هم ویل کیږي. انټرنیټي بانکداري د کمپیوټري تکنالوژي یوه نوې لاسته راوړنه ده.

خلک فکر کوي چې انټرنیټي بانکداري د ۲۴ ساعته بانکي خدمتونو له جریان څخه عبارت ده. که څه هم بانکونه د صرافۍ د آتومات ماشینونو یا A.T.M ,Atumtinc Teller Machine په واسطه شپه او ورځ پیسې د مشتریانو په واک کې ورکوي خو انټرنیټي بانکدارای تر دغه هم له زیاتو اسانتیاوو څخه برخمنه ده. ځکه د ورته بانکدارۍ په ترڅ کې مشتریان کولای شي د انټرنیټي بانکدارۍ له لارې بیلابیلې بانکي دندې له خپل کور څخه او یا د مسافرت په وخت کې د کار ځای ته له تګ یا ورتلو څخه پرته ترسره کړای شي.

انټرنیټي بانکداري د دې څواک لري، ترڅو په اتومات ډول له خلکو څخه پیسې تر لاسه کړي او نورو خلکو ته یې د قرضونو په توګه ورکړي. په لنډه توګه ویلای شو چې انټرنیټي بانکداري، مشتریانو ته د بانکي خدماتو یو نوی وړاندې شوی سیستم دی، چې د انټرنیټ په مټ تر سره کیږي.

**د انټرنیټي بانکدارۍ آسانتیاوې:**

دغه ډول بانکداري د مشتریانو په واک کې وي او بانکي فعالیتونه د هغوی په لاس تر سره کیږي. بانکي کارونه اصلاً د کاغذ پر مخ تر سره کیږي چې د کار دغه میتود له نړیوال مخکښ اقتصاد سره اړخ لګوي. اوسمهال د انټرنیټ د پراخې ټکنالوژۍ له منځته راتګ سره بانکي او تجارتي کاروبار هم په برقي یا انټرنیټي توګه تر سره کیږي، چې کولای شو د برقي تجارت له لارې د صادراتو او وارداتو له بهیر څخه بررسي وکړو، د خپلې خوښې وړ اجناس انتخاب او په برقي توګه یې د موبایل او داسې نورو وسایلو له لارې خپله بانکداري کنټرول کړو.

که د بانکدارۍ سکتور تر ۲۱ مې پیړۍ پورې پاتې شي، په هغه وخت کې ممکن د کار ټول سیستم بدل شي او بانکداران مجبور شي تر څو له انټرنیټي ټکنالوژۍ څخه په استفادې سره خپلو مشتریانو ته لا غوره او چټک بانکي خدمتونه وړاندې کړي.

د بانکونو مشتریان په ګړندۍ توګه د کمپیوټر له پوهې سره آشنا کیږي او کولای شي

د برقي وسايلو له اساسي خدماتو څخه په ښه توگه استفاده وکړي. اوس مهال د بانکونو د مشتريانو غوښتنو هم بدلون موندلی دی، هغوی په هر ځای او هر وخت کې ۲۴ ساعته بانکي خدمتونو ته اړتيا لري. بانکونه هم هڅه کوي تر څو د شونتيا تر بريده د خپلو مشتريانو هيلې او غوښتني پوره کړي، ځکه هغوی پوهيږي چې که چيرته وغواړي له خپلو رقيبانو څخه د سيالۍ يا رقابت لوبه و گټي، پکار ده چې هر ډول بانکي او انټرنيټي خدمتونه د خپلو مشتريانو په واک کې ورکړي.

بانکونو اوس د د انټرنيټ يا EFT له لارې د پيسو د انتقال، د تيليفوني بانکدارۍ له لارې د پيسو د پرداخت، له انټرنيټي لارې د چکونو د کنټرول په څېر بانکۍ خدمتونه د مشتريانو په واک کې ورکړي. انټرنيټي بانکدارۍ په مترقي او پرمختللو هيوادونو کې لا هم د ودې په حال کې ده.

**د انټرنيټي بانکدارۍ گټې:**

**:Advantages of Electronic Banking**

انټرنيټي بانکداري له کور څخه د بانکدارۍ، مستقيمې بانکدارۍ او په داسې نورو نومونو يادېږي. انټرنيټي بانکداري له يوه ځانگړي سافټ وېير څخه د استفادې په صورت کې تحقق مومي. انټرنيټي بانکداري په -۱۹۹۰- ز کال کې د WEB يا نړيوال جال له معرفي کيدلو سره منځته راغله. د انټرنيټي بانکدارۍ مهمې گټې په دريو برخو باندې ويشلای شو:

۱- د مشتريانو لپاره گټې Benefit to Customers

۲- د بانکدارۍ په برخه کې گټې Benefit to Banking Industry

۳- ټولنې ته گټې Benefit to Society

**الف- د مشتريانو لپاره گټه Benefit to Customers:** بانکي خدمتونو ته د مشتريانو اړتياوو او غوښتنو، په تيره لسيزه کې په گړندۍ توگه بدلون و موند. په اوس وخت کې بانکونه خپلو مشتريانو ته لاندې خدمتونه د هغوی په کورونو او استوگنځايونو کې وړاندې کوي:

**۱- د هغوی په بانکي حساب کې له پولي وجوه څخه د خلکو خبرتيا يا Account Balances:** چې په ترڅ کې يې مشتري د اوونۍ په -۷- ورځو کې کولای شي په-۲۴- ساعته توگه په خپل حساب کې د پولي و جوه ميزان و ليدلای شي.

۲- **د اعتبار د کارت فورمه یا Accounting Card Statement:** مشتري کولای شي هر وخت چې وغواړي بانک ته د اعتبار د کارت فورمه را وړای شي.

۳- **د بېلونو تادیه یا Bill Payment:** مشتري کولای شي د پیسو د یوه ناڅیزه مصرف په بدل کې خپل مصرفي بېلونه د انټرنیټ له لارې تحویل کړي.

۴- **له یوه حساب څخه بل حساب ته د پیسو لیږد یا Transfer of Money to A/C:** مشتری کولای شي د انټرنیټي بانکداري له سیستم څخه په استفادې سره په خورا زیاته اسانۍ سره له یوه حساب څخه بل حساب ته پیسې و لیږدوي.

۵- **د بانکداري د ساعتونو نوې بڼه یاNew Meaning of Bankin Hours:** پیسو اخستلو او مصرفي بېلونو د تحویل لپاره مشتریان دا اړتیا نه احساسوي چې د معین مهال ویش د تعقیب مکلفیت احساس کړي، بلکې په خپله خوښه هر وخت خپلې بانکي دندې تر سره کولای شي.

۶- **د سفر په وخت کې مالي تنظیمات یا Handling finance while traveling:** انټرنیټي بانکداري د خپلو بانکي مشتریانو لپاره یوه بله اسانتیا هم وړاندې کوي او هغه دا چې هغوی د سفر پر وخت کې هم کولای شي خپل حسابونه چک کړي او د خپلو مصرفي بېلونو لپاره د پرداخت چارې تر سره کړي.

۷- **په کور کې بانکي خدمتونه یا Home Banking Service:** د مشتریانو له حد څخه د زیاتې ګڼه ګوڼې د مخنیوي له کبله بانکونه مجبور شویدي تر څو یو بل بانکي میتود پکار واچوي او د مشریانو لپاره یوه برقي او انټرنیټي دروازه پرانیزي. تر څو مشتریان وکړای شي په مستقیمه توګه خپلې پیسې بانکي حسابونو ته انتقال یا اضافه کړي او بانک ته د تللو هیڅ ډول اړتیا احساس نکړي.

ب- **د بانکدارۍ په برخه کې ګټې Advantages to Banking Industry:** انټرنیټي بانکداري د بانکدارۍ په برخه کې زیاتې ګټې ډالۍ کړېدي چې مهمې هغه یې په لاندې ډول خلاصه کیږي:

۱- **د کارکونکو په معاشاتو کې کموالی:** انټرنیټي بانکداري د بانکدارۍ له صنعت سره مرسته کړیده ترڅو د خپلو کارکونکو معاشات او مصارف لږکړي او خپل پولي مصارف تر کنټرول لاندې راولي.

۲- **د ثقلیه فزیکي خدماتو له منځه وړل:** د انټرنیټي بانکدارای له معرفي کیدلو سره د

بانکدارۍ په صنعت کې د چکونو د مسلسلو شمېرو ليکلو، د مالياتي فورمو ډکولو، د چک کتابچو د استولو او د داسې نورو فزيکي کارونو د ترسره کولو په برخه کې خنډونه رامنځته کوي.

**۳- د بازار موندنې پراختيا:** د انټرنيټي بانکداري سيستم د بانکدارۍ له صنعت سره مرسته کړېده تر څو زيات شمېر مشتريان که څه هم په ملي يا نړيواله سطحه وي، خپل ځان ته جلب کړي. پدې اساس دا کار د بازار موندنې له پرمختګ او پراختيا سره د مرستندوی عمل په دود پېژندلای شو.

**۴- له کاغذ څخه د بې مورده استفادې مخنيوی:** انټرنيټي بانکدارۍ په تدريج سره له کاغذ څخه د استفادې کولو ځای ونيو، چې په پايله کې د بانکونو د يو لړ بې ځايه او بې مورده مصارفو د مخنيوي لامل هم شوه.

**۵- د ګړنديو خدماتو وړاندې کول:** انټرنيټي بانکدارۍ د خپلوکارکوونکو او مشتريانو د وخت او پيسو له لګولو څخه هم مخنيوی کوي .

**۶- د مشتريانو د شمير زياتوالی:** انټرنيټي بانکداري د لږ مصرف په بدل کې د بانکونو مشتريان زيات کړي دي. په اوس حال کې بانکونه د پيسو له لګښت څخه پرته، خپلې نمايندګۍ د هيواد په مختلفو سيمو کې پرانستلای شي او له انټرنيټي ټکنالوژي څخه په استفادې سره د بانکدارۍ خدمات په لېرې پرتوسيمو کې په اسانۍ سره خپلو مشتريانو ته وړاندې کولای شي.

**ج- ټولنيزې ګټې Benefits to Society:** انټرنيټي بانکداري له مشتريانو سره مرسته کوي تر څو د خپلې پولي وجوه ميزان په خپلو جاري حسابونو يا د پس انداز په حسابونو کې وڅيړي. مشتريان د انټرنيټي بانکدارۍ له سيستم څخه په استفادې سره کولای شي له خپل کور يا استوګنځای څخه له يوه بانکي حساب څخه بل بانکي حساب ته پيسې وليږدوي، خپلو حسابونو ته يو له بل سره تطابق ورکړي او خپلې مصرفي پيسې تاديه کړي، چې پدې کار سره له يوه لوري بانک ته د هغوی د تګ له مصارفو څخه مخنيوی کيږي او له بل لوري د هوا د ککړتيا مخنيوی هم کيږي.

**د تلګراف له لارې د پيسو انتقال يا Telegraphic Transfer of Money:**

زياتې لارې چارې شتون لري، چې په مرسته يې له يوه ځای څخه بل ځای ته پيسې ليږدولای شو. د ټلګراف له لارې د پيسو ليږد هم يو له هغو ميتودونو څخه دی، چې کولای

شو له یوه ځای څخه بل ځای ته پیسې انتقال کړو چې دا هم د بانکونو له لوري کارول کیږي.

کله چې یو شخص وغواړي د بانکي نماینده ګیو له لارې له یوه ځای څخه بل ځای ته پیسې انتقال کړي، باید د تحویل وړ پیسې د اخستونکي مشخصات، د حساب نمبر او د هغه ځای پته چې پیسې وراستوي، د بانک مسؤلینو ته وسپاري. وروسته لدې چې بانک د انتقال وړ پیسې او خپل کمیشن له مشتري څخه واخلي، خپلې اړیکې د مخصوصو کوډونو له لارې هغه بانک ته استوي، چیرته چې پیسې استول کیږي.

د معلوماتو له مواصلت سره نوموړی بانک استول شوې پیسې بې له ځنډه د مشتري په حساب کې زیاتولای شي. ځیني وختونه بانکونه د ټلیفون له لارې هم له خپلو نماینده ګیو سره اړیکه نیولای شي .

۲- **د انټرنیټ له لارې د پیسو انتقال یا Electronic Transfer of Money:** د معلوماتي ټکنالوژۍ اوکمپیوټر له منځته راتګ سره د ژوند په ټولو اړخونو کې بدلونونه را منځته شویدي. له کمپیوټر څخه استفاده د یوې اساسي اړتیا په توګه پیژندل کیږي. کمپیوټر د تجارانو تجارت او معاصرې بانکدارۍ د سیستم لپاره یوه با اهمیته برخه تشکیلوي. د نړۍ په زیاتره برخو کې انټرنیټي تجارت او بانکداري معرفي او پکار اچول شویده. انټرنیټي او کمپیوټري اسانتیاوې خپلو مشتریانو ته د خدماتو وړاندې کول نور هم ګړندي کړیدي. په اوس وخت کې دغه چلند او طریقه د افغانستان په بانکونو کې نه کارول کیږي ، خو کابل بانک یوازنی تجارتي بانک دی چې SWIFT یا انټرنیټي بانکداري یې د موبایل او داسې نورو معاصرو سیستمونو له لارې د بانکدارۍ په سیستم کې داخله کړیده او پدې توګه یې افغانستان له انټرنیټي بانکدارۍ سره وصل کړی دی.

۳- **کور بانک سیستم ( C-B-S ) :Core Banking System** C-B-S، یا هستوي بانکي سیستم د کمپوټري سافټ ویر له هغه سیستم څخه عبارت دی، چې ټول بانکي حسابونه او بانکي معاملات په جامع توګه تنظیموي، او د بانک د مفاد او ضرر د حساب او بیلانس شیټ راپور د هغوی د ختم په ورځ چمتو کوي.

د معلوماتي ټکنالوژۍ په دغه نوي سیستم یا (C. B. S)کې ټول حسابي جریان لکه د معاملاتو درج (Recording)، د معاملاتو تنظیم (Classifying)، د قرضې د ربعې محاسبه او د خلکو امانات او داسې نور د (C. B. S) سافټ وییر په واسطه تر سره کیږي او ډیټابیس له یوه ستر لیجر څخه په استفادې سره په دیجیټلي توګه ټول معلومات ثبت او ذخیره کوي. همدا شان د ارتباطي او معلوماتي ټکنالوژۍ پرمختګ او پراختیا (I. C. T) Information

Communication Technology په بانکي عملیاتو کې مثبت تحولات منځته راوړي او له (C. B. S) سافټ وییر څخه په استفادې سره ټول بانکي عملیات ګړندي او کم مصرفه شویدي. دغه سیستم د بانک ټولې څانګې د انټرنیټ په واسطه یو له بل سره وصلوي چې په پایله کې یې یو بشپړ بین البانکي سیستم منځته راځي.

**د دې سیستم ګټې او تاوانونه په لاندې ډول خلاصه کولای شو:**

۱. د ورځې په پای کې د بانک د بیلانس شیټ له ترتیب کیدلو سره د مفاد او ضرر د حساب د راپور درج او تنظیم کیدل.
۲. د حسابي جریان چټکتیا او د مصرف کموالی.
۳. مشتریانو ته د (Automatic Teller Machine) (A. T. M) خدمت په وړاندې کولو سره د هغوی د رضایت او قناعت تر لاسه کول.
۴. د ونډو په بازار کې په اسانه توګه د بین البانکي او تجارتي پیسو انتقال.
۵. د تلیفون او انټرنیټ له لارې بانکداري.
۶. د نویو خدماتو له لارې بانکداري چې د وخت په تیریدلو سره ورته سترګې په لاره یو.

د یوه بشپړ تعریف په توګه الکټرونیکي بانکداري یا C. B. S له یو ډول سیستم څخه عبارت ده، چې ټول بانکي خدمات، محصولات، د رهبري عملیات او مدیریت د ګډو معلوماتي منابعو په مټ د یوه سټنډرډ سیستم په چوکاټ کې وړاندې کوي.

**د بانکدارۍ مهم اصول او اساسات ( Banking General Principles of)**

بانکونه د خلکو په پیسو او سرمایه باندې کاروبار کوي، نو ځکه د بانک بریالیتوب د هغه د مدیریت له څواک او اغیزمنتوب سره تړلی دی. بریالیتوب ته د رسیدلو په موخه د بانکونو مسؤلین باید د خپلو ورځنیو فعالیتونو په جریان کې لاندې اصول او اساسات مراعات کړي:

a- د مشتریانود ستونزو د حل وړتیا-Principle of Liquidity
b- د اغیزمنتوب اصول ----Principle of efficieny Efficiency
c- اقتصادي اصول -------- Principle of EconomyEconomy
d- د اشتهار او تبلیغ اصول-----Principle of Publicity

**a- د مشتریانو د ستونزو د حل وړتیا (Principle of Liquidity):** د مشتریانو د ستونزو د حل وړتیا د بانکدارۍ د بریالیتوب روح او ساه ګڼل کیږي. د پیسو یو مشخص مبلغ باید د بانک په ذخیروي منابعو کې موجود وي، تر څو د اړتیا په صورت کې مشتریانو ته ورکړل شي. د یوه بانک د موفقیت راز د مشتریانو د ستونزو د حل لپاره د یوه مبلغ په ساتلو او په ورته وخت کې د یوه مناسب مفاد په ترلاسه کولو کې نغښتی دی. بانکداران د خپلې تجربې له مخې پوهیږي چې د اماناتو د پولي وجوه له مجموعي مبلغ څخه ځینې مشتریان له بانک څخه یو ناڅیزه مبلغ وراخلي.

د بانکونو مهم او اصلي هدف دا دی چې یو کافي مقدار پیسې د خپلې پولي وجوه له مبلغ څخه د مشتریانو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره وساتي او پاتې هغه یې نورو خلکو ته د قرض په ډول ورکړي، تر څو زیات مفاد تر لاسه کړي. له همدې کبله پکار ده چې بانکداران په خورا محتاطانه توګه خپلې پیسې پکار واچوي، تر څو له کوم ګواښ او خطر څخه پرته زیات مفاد د ځان په برخه کړي. یو ماهر بانک باید د مشتریانو د ستونزو لپاره د پیسو ساتلو میزان او د هغو پیسو میزان په متوازنه توګه وساتي، چې د مفاد د تر لاسه کولو لپاره یې پکار اچوي. دغه دوه اصول یعنې د مشتریانو د ستونزو لپاره ساتل شوې پیسې او هغه پیسې چې د مفاد د تر لاسه کولو لپاره پکار اچول شویدي، یو د بل لپاره لازم او ملزوم دي.

د مشتریانو د اړتیا د پوره کولو لپاره ساتل شوې پیسې په دوو نورو اصولو باندې هم ویشل شویدي چې په لاندې ډول دي:

۱ د مصؤنیت معیار--------Canon of Safety

۲ د کفایت او تکافو معیار ------------ Canon of Adequacy

**۱- د مصؤنیت معیار (Canon of Safety ):** د مصؤنیت معیار د بانکونو د سرمایه ګذارۍ په سیاست پورې اړه لري. د یوه بانک موفقیت په سودمندانه او هوښیارانه توګه د هغه له سرمایه ګذارۍ سره تړاو لري. وروسته لدې چې بانک د خپلې پولي وجوه له مجموعې مبلغ څخه یو مقدار مبلغ د خپلو مشتریانو د اړیتاوو پوره کولو لپاره له ځان سره ساتي، پاتې مبلغ باید په خورا محتاطانه توګه د مصؤنیت د اصولو له مخې سرمایه ګذاري کړي.

بانکداران باید د بانک د پولي وجوه د پانګې اچونې په وخت کې لاندې اساسات او اصول تعقیب کړي:

**الف** – بانکدار باید سرمایه ګذارانو ته اوږد مهاله قرضونه ورنکړي، ځکه پخپله په بانک کې هم باید یو مقدار پیسې پاتې شي تر څو د اړتیا په وخت کې د مشتریانو غوښتنې ځواب کړای شي. پدې اساس بانکونه نشي کولای هغو تاجرانو ته اوږد مهاله پیسې ورکړي چې ځمکه، ساختمان او ماشین الات ورباندې اخلي.

کله چې مشتري له بانک څخه قرضه غواړي، یو محتاط او مدبر بانکدار په لومړي سر کې له مشتري څخه پوښتنه کوي، چې د څومره وخت لپاره قرضه غواړي او وروسته ګوري چې ایا مشتري د قرضې له معیاد وروسته کولای شي، بیرته بانک ته پیسې ورکړي.

**ب-** بانک باید د دایمي تضمیناتو په مقابل کې مشتریانو ته قرضې ورنکړي، بلکې باید د سروزرو، د پلور وړ تضمیناتو په مقابل کې مشتري ته قرضه ورکړي.

**ج-** بانک باید یوه انفرادي شخص او یا مشخص صنعت ته اوږد مهاله قرضه ورنکړي، ځکه که چیرته هغوی په کومه ستونزه باندې اخته شي، بانک هم باید هغه اقتصادي خسارات تحمل کړي، چې دغه کار د بانک په ترقۍ باندې منفي تاثیر کولای شي، نو پدې اساس بانک باید مختلفو اشخاصو او صنایعو ته مناسب مبلغ د قرضې په توګه ورکړي، تر څو له ورته ګواښ څخه مخنیوی وشي.

په ساده ژبه ویلای شو، چې د بانکونو سرمایه ګذاري باید مناسبه او متنوع وي، ترڅو د یوه صنعتکار زیان د بانک د ضرر او خسارې لامل ونګرځي.

**۲- د کفایت او تکافو معیار (Canon of Adequacy):** د کفایت او تکافو معیار د خپل ځان لپاره د ساتل شویو پیسو په میزان پورې اړه لري. بانکونه پیسو ته اړتیا لري، تر څو د مشتریانو له لوري صادر شوي چکونه په خپل وخت سره اجرا کړای شي. کله چې مشتري له بانک څخه راضي وي او په بانکي امورو کې ډاډ او اطمینان تر لاسه کړي، هیڅکله هم خپلې پیسې له بانک څخه نه باسي، خو لدې سره سره بانک باید د براورد مطابق یو مقدار پیسې د بانک د پولي وجوه له مجموعي مبلغ څخه د احتیاط په توګه له ځان سره وساتي. د پیسو هغه مبلغ چې باید بانک یې په احتیاطي توګه له ځان سره ساتي، نشي کولای د مبلغ د کومې معینې سلنې له مخې وي، خو باید په هغې اندازه وي، چې وکولای شي د مشتریانو نغدې ستونزې هوارې کړای شي. ساتل شوې پیسې باید له حد څخه زیاتې او یا کمې نه وي. ځکه که چیرته دغه پیسې بیخي کمې وي د مشتریانو د چکونو په اجرا کې د بانک د ناتوانۍ لامل ګرځي چې په پایله کې د عامه

اعتماد د تلف کیدلو لامل کېدای شي او حتی د بانک د ماتې لامل هم ګرځېدلای شي. په ورته حال کې که چیرته د ساتل شویو پیسو میزان بیخې زیات وي، معنا یې دا ده چې د بانک د پولي وجوه یو زیات مبلغ د مفاد له ګټلو څخه محروم ایښودل شوی دی، چې دا کار هم د بانکدارۍ د کاروبار په وړاندې متضرر ثابتیدلای شي. د پیسو هغه مبلغ چې بانک یې له ځان سره ساتي، تر ډیره ځایه د بانک د پولي وجوه د مجموعي سلنې له مخې ټاکل کیږي. د دغو پیسو مشخص مبلغ کولای شو د لاندې عواملو له مخې تعین کړو:

**الف-** د مشتریانو د ژوند سطحه او کاري میتود باید وڅیړل شي. که چیرته د بانک مشتریان فعال او په تجارت یوه کسان وي، پدې معنا چې د هغوی پولي اړتیاوې زیاتې وي، نو د زیاتې ذخیرې ایښودلو ته اړتیا ده، خو که چېرته د مشتریانو د کرنې او داسې نورو په څېر د عادي کاروبارونو لرونکي وي، پدې صورت کې د هغوی پولي اړتیاوې هم کمې دي او ضرور نده چې زیاته ذخیره دهغوی د پولي اړتیااوو د رفع کولو لپاره له سود ګټلو څخه محرومه شي.

**ب** – په زراعتي هیوادونو کې باید د کال فصلونه په نظر کې ونیول شي. ځکه د محصولاتو د راټولولو په فصل کې د زارعینو او دهاقینو پولي اړتیاوې زیاتې وي.

**ج-** په پورتنیو عواملو سربیره د ټولنیزو او مذهبي فعالیتونو، په ملي او نړیواله سطحه د بانکونو د غیر عادي ودې او داسې نورو په څېر یو لړ عوامل هم د پولي سلنې د تعین په برخه کې چې باید په بانک کې وساتل شي، مهم رول لري.

**د-** سیاسي بې ثباتي هم د پولي وجوه په میزان او د بانکونو په مصارفو باندې تاثیر لري.

**b- د کارکولو د وړتیا اصول (Principle of Efficiency):** د نورو ټولو موسساتو په څېر د بانک مدیریت هم په یو سالم او اهل کار مدیریت پورې اړه لري. په تیرو وختونو کې زیاتره بانکونه د نا سالم مدیریت له کبله له ماتې او شکست سره مخ شوي او یا له منځه تللي دي.

آمر یا منیجر د بانک له مهمو اشخاصو څخه دی. ځکه هغه مسؤلیت لري تر څو له یوې خوا ستر تجارت او کاروبار د خلکو په پیسو باندې د بانک لپاره په کار واچوي او له بلې خوا مشتریان له بانک څخه راضي وساتلای شي. نو پدې اساس هغه باید همیشه خپلې دندې له موثریت سره جوخت د مشتریانو له رضایت سره یو ځای تر سره کړي. د بانک ټول کارکونکي باید د خپلو دندو په جریان کې د کارکولو د وړتیا اصول مراعات

کړي، ځکه د بانک مشتریان خورا حساس کسان دي. کله چې مشتري بانک ته مراجعه کوي، توقع لري تر څو په ډېره ښه توګه د بانک له مسؤلینو څخه پیسې تر لاسه کړي، نو پدې اساس یوازې د مشتریانو د اعتماد تر لاسه کول د بانک لپاره ضروري ندي، بلکې هغوی باید د اخلاقو او کردار له مخې هم راضي وساتل شي.

c- **اقتصادي اصول (Principle of Economy):** د اقتصادي امورو مدیریت د نړۍ د ټولو تجارتونو د لومړۍ او مبرمې اړتیا په توګه تلقي کیږي. د بانک مالي مصارف باید د کاري کیفیت له نیمګړتیا پرته په ټیټه سطحه کې وساتل شي. د بانک قابل وقایه مصارف باید پر بشپړه توګه له منځه ولاړ شي، ځکه همدغه بې ځایه مصارف د بانک په منفعت باندې بد تاثیر لري او اغلباً د بانک د زیان لامل ګرځي.

d- **د اشتهار او تبلیغ اصول (Principle of Publicity):** هر ډول تجارت او کاروبار موفقیت تر ډېره ځایه د هغه په مشتریانو پورې اړه لري، چې د غه اصل د بانکدارۍ لپاره هم یوه مهمه او حیاتي اړتیا ګڼل کیږي. ځکه د خلکو اعتماد د تجارت لپاره د یوې سترې او مستحکمې سرمایې اساس ګڼل کیږي.

اشتهار او تبلیغات کولای شي د خلکو د تفکر طرز ته بدلون ورکړي . په ورته حال کې بانکداري باید وکولای شي تر څو له مختلفو تبلیغاتي وسایلو څخه د استفادې په بنه د خپلو مشتریانو شمیر زیات کړي. نن ورځ بانکداران هم د نورو ټولو سازمانونو او موسساتو په څېر له صوتي، تصویري او غږیزو رسنیو څخه په استفادې سره د ټولنې او خلکو په منځ کې د بانکي خدمتونه تبلیغ کوي.

د بانک په برخه کې هر ډول توطیه او تخطي کولای شي د بانک حیثیت ته شدیده ضربه ورسوي او کله چې د بانک حیثیت صدمه ووینې، له لوېې ستونزې سره مخ کیدلای شي، تر څو دوباره لومړني حالت ته د ستنیدلو وړتیا و نه لري.

۱- **د اعتبار ایجاد (Creation of Credit):** دغه دلیل چې اوسني معاصر او موډرن بانکونه د اعتبار د تولیدونکو مراکزو په توګه پیژندل کیږي، دا دي چې د هغوی له مهمو دندو څخه یوه هم د بانکي اعتبار منځته راوړل دي.S

بانکونه څه ډول اعتبار منځته راوړي؟

د مشتریانو د نغدو غوښتونو د پوره کولو او قرض ورکولو لپاره د بانک د پولي وجهې له مجموعې څخه د مبلغ د یوې برخې له ساتلو وروسته پاتې مبلغ مشتریانو ته د قرض

په ډول ورکول کیږي. دغه مبلغ یوه مشتري ته  یوځای نه ورکول کیږي، بلکې د مشتري د اړتیا له مخې ورکول کیږي. کله چې د بانک له لوري له مشتري سره ژمنه وشي چې د اړتیا په وخت کې به پیسې ورکوي، نو مشتري په خورا اسانه توګه قانع کیدلای شي، تر څو خپلې پیسې بانک ته وسپاري.

بانک کوم اتاق یا خونه نه ده چې پیسې یا سکې پکې جمع شي او په داسې ډول پکې وساتل شي، چې د اړتیا په وخت کې ترې واخستل شي، بلکې باید پوه شو، هغه پیسې چې بانک ته سپارل کیږي، نورو کسانو ته په قرض ورکول کیږي. ځکه بانکونه کولای شي د یوه ناڅیزه مبلغ په ساتلو سره د مشتریانو د پیسو ستونزې حل کړي.

د دې لپاره چې مشتریان په یوه وخت کې د پیسو اخستلو لپاره بانک ته نه راځي، له همدې کبله بانکونه کولای شي د یادو پیسو یو ناڅیزه مبلغ په یوه قوي او مستحکم جوړښت د خلکو په منځ کې ایجاد کړي، بانکونه خلکو ته قرضې ورکوي او  له هغوی څخه مفاد تر لاسه کوي چې د بانک دغه کار د بانک د اعتبار د ایجاد یا  (Creation of Credit) په نامه یادیږي.

د پیسو ذخیره کیدل په دوه ډوله صورت نیسي:

۱-کله چې مشتري خپلې پیسې د ساتنې په موخه تجارتي بانکونو ته سپاري.

۲-  د بانک له لوري  مشتریانو ته د قرض وړاندې کول  د اسعارو د تبادلې په نرخ کې تخفیف  او د سترو حواله جاتو یا Over draft  د اجرا د اسانتیا  برابرول.

په ساده ژبه ویلای شو چې بانکداران په لومړي سر کې د سترو حواله جاتو د اجرا لپاره او په دوهم ځل کې د تضمینونو د اخیستلو او د چک له لارې د هغوی له پرداخت کولو سره د خلکو په منځ کې خپل بانکي اعتبار منځته راوړي چې دا کار بیا هم د نغدو پیسو پرداخت ندی، بلکې د نغدو پیسو د پرداخت لپاره ژمنه ده.

یو صادر شوی چک د ښارله بانکونو څخه یوه ته انتقالیږي، چې د اخستونکي لپاره پکې پیسې جمع کیږي او هغه هم د چک د صادرونکي بانک د اعتبار په واسطه.

ایا بانکونه په رښتني توګه اعتبار منځته راوړي؟

د دې پوښتني ځواب خورا پیچلی دی، لکه څنګه چې Hartley Withers ویلي، بانک له خلکو څخه د نغدو پیسو له لاسته راوړلو او افرادو ته په قرضو سره د هغوی د چک  له لارې  د پیسو ورکولو په واسطه، بانکي اعتبار منځته راوړلای شي.

کله چې مشتریانو ته قرضه ورکول کیږي، نوموړې پیسې په خپله په بانک کې ساتل

کیږي، چې همدغه پیسې د بانک د پولي وجوه له زیاتوالي سره مرسته کوي .
بانک نشي کولای په یوازې سر پیسې منځته راوړي، بلکې یوازې کولای شي د هغو نغدو پیسو مبلغ چې په واک کې یې لري، مشتریانو ته د قرض ورکولو له لارې اعتبار را منځته کړي او هیڅ کله هم نشي کولای او نه غواړي چې پیسې تولید کړي.
که څه هم بانکونه په انفرادي توګه د پولي وجوه له مجموعي مبلغ څخه یو مشخص مقدار مشتریانو ته قرضه ورکوي، خو د بانکدارۍ عمومي سیستم کولای شي د خپلو قرضونو او سرمایه ګذارۍ د ذخیره شویو یا Reserve مبلغ څو برابره زیات کړي.
د اعتبار د ایجاد واقعي پروسه داسې ده چې: مثلاً: یو مشتری – ۱۰۰۰ افغانۍ په بانک کې پس انداز کوي، بانک مشتري ته د پرداخت په موخه هڅه کوي تر څو هماغه پس انداز شوي پیسې سرمایه ګذاري کړي.
کوم کس چې غواړي له بانک څخه قرضه تر لاسه کړي، هغه ته پیسې په نغده توګه نه ورکول کیږي، بلکې یادې شوې پیسې د ذخیرې تر عنوان لاندې په بانک کې ساتل کیږي.
که چیرته بانک د نوموړو پیسو ٪ ۲۰ له خپل ځان سره وساتي، په دوهمه مرحله کې کولای شي چې ۱۰۰۰ افغانۍ قرضه پنځه برابره یعنې ۵۰۰۰ ته زیاته کړي، چې په پایله کې د بانک لپاره اعتبار منځته راځي.
په یاد ولرئ چې قرض اخستونکي ته نغدې پیسې نه ورکول کیږي، بلکې د هغه لپاره یو بانکي حساب پرانیستل کیږي او د قرضې مبلغ د هغه په بانکي حساب کې حواله کیږي.

**د اعتبار د ایجاد محدودیت (Limitation of Credit Creation):**

پورتنیو توضیحاتو ته په پام سره باید ووایو چې بانکونه د ځمکې له کرلو پرته له هغې څخه حاصل اخلي. ځکه بانکونه خپلو مشتریانو ته د قرضې د ورانديې کولو او د تضمیني اجناسو د خریدارۍ له لارې د نغدو پیسو له ورکړې پرته مفاد تر لاسه کوي.
بانکونه نشي کولای په نامحدوده توګه خپل اعتبار زیات کړي. ځکه چې د باورونو له زیاتوالي سره په تړاو، بانکونه یو لړ محدودیتونه لري نو د تجارتي بانکونو د اعتبار زیاتوالی په لاندې ډول مطالعه کیږي:

**۱- د مشتریانو د اړتیاوو د رفع کولو په موخه د ساتل شویو پیسو میزان (Reserve Ratio of Cash):**

د مشتریانو د پولي اړتیاوو د رفع کولو په موخه په تجارتي بانکونو کې د ساتل شویو پیسو

تناسب چې د مرکزي بانک له لوري ټاکل کیږي، د بانکونو د اعتبار ایجاد محدودوي. تجارتي بانکونه باید اجازه ورنکړي، تر څو د هغوی د پس انداز پولي وجوه تر هغه مبلغ ښکته تعین شی چې د مرکزي بانک له لوري تعین شوي دی. که چیرته تر همدغه حد ښکته شي، تجارتي بانکونه اجازه نلري چې خلکو ته قرضې ورکړي.

۲- **په بانک کې د نغدو پیسو شتون (Availability of Cash):** د اعتبار د ایجاد بهیر د بانکونو د پولي وجوه له مجموعې سره هم تړاو لري. تر ټولو لوړ بانکي اعتبار د بانکونو د پولي وجوه د ستر رقم له مخې منځته راتلای شي.

۳- **د پیاوړي او معتبر تضمین شتون Collateral Security Available:** مشتریانو ته د قرض ورکولو په مقابل کې د معتبر تضمین شتون د بانکي اعتبار د ایجاد د بهیر تر ټولو مهم محدودونکی عامل ګڼل کیږي. بانکونه د معتبرو ضمانتي اسنادو په مقابل کې مشتریانو ته قرضې ورکوي، نو پدې اساس که چیرته له مشتري سره معتبر او مؤثق سند شتون ونلري، نو پدې صورت کې د بانکي اعتبار ایجاد ناشونی دی. پدې اساس ویلای شو چې تجارتي بانکونه په خپل سر د پیسو تولیدونکي ندي، بلکې د نورو خلکو قیمتي شیان پر پیسو باندې بدلوي.

۴- **د مشتریانو د بانکدارۍ عادات او میتود(Banking Habit Of Peopl):** د مشتریانو د بانکي کار میتود او عادات هم د بانکي اعتبار پر ایجاد باندې تاثیر لري. که چیرته مشتري له چک څخه د استفاده کولو عادت ونلري، هغه ته قرض ورکول د بانکي اعتبار د ایجاد لپاره د بانک د پولي وجوه د میزان د ښکته کولو لامل ګرځي.

۵- **د نغدو پیسو کسر Leakage of Cash:** په بانک کې د نغدو پیسو کمښت هم د بانکي باور پر ایجاد باندې تاثیر اچوي. ممکن ځینې اشخاص چې چک ورکول کیږي، خپلې پیسې په خپل بانکي حساب کې اضافه نه کړي، بلکې په خپلو ورځنیو مصارفو کې یې په مصرف ورسوي، نو پدې اساس هر مقدار پیسې چې مشتري یې په نغده توګه له بانک څخه اخلي، په همغې اندازه د بانکي اعتبار د ایجاد بهیر محدودوي.

۶- **د نورو بانکونوکاري چلند یا ډول (Behavior of other Banks):** د نورو بانکونو کاري چلند او کړه وړه هم د یو بانک د بانکي اعتبار د ایجاد پروسه ټکنۍ کولای شي. پدې معنا چې که چیرته ځینې بانکونه د مرکزي بانک د تعین شوي مبلغ له مخې مشتریانو ته قرضې ورنکړي، نو پدې صورت کې د بانکي اعتبار د ایجاد پروسه او جریان متأثره کیږي، چې په پایله کې یې بانکونه نشي کولای خپلو مشتریانو ته د قرضې مبلغ اضافه کړي.

۷- **اقتصادي وضعیت (Economic Situation):** د اعتبار د ایجاد بهیر هم د نورو ټولو تجارتي دندو په څېر په یو هیواد کې اقتصادي ثبات او د تجارت امنیتي فضا ته اړتیا لري. که چېرته په یوه سیمه کې امن وي، پدې سیمه کې زیاتې پیسې سرمایه ګذاري کیږي او تاجران له بانکونو څخه زیاتې پیسې اخلي، چې په پایله کې د بانک اعتبار زیاتیږي. خو که چیرته په یوه هیواد کې بې امنیتي حاکمه وي، پدې صورت کې موضوع برعکس کیدی شي.

څنګه چې په ورته صورت کې تجاران له بانک څخه قرضه نشي اخستلای، نو د بانکي اعتبار په ایجاد باندې بد تاثیر اچوي.

۸- **د مرکزي بانک سیاست (Policy of Central Bank):** د بانکي اعتبار دایجاد پروسه د مرکزي بانک د سیاست او اقداماتو له لوري هم متاثره کیږي.

مرکزي بانک په نورو تجارتي بانکونو کی د ساتل شویو پیسو میزان تر تاثیر لاندې راولي او خپل نظارتي سیستم اوکاري سیاستونه پر هغوی باندې استعمالوي، چې د مرکزي بانک دغه سیاستونه او سلوک د بانکي اعتبار د پیدا کولو بهیر تر خپل اغیز لاندې راولي.

**د لومړي څپرکي د مطالبو لنډیز:**

په اولسمه او اتلسمه پیړۍ کې د بانکونو منځته راتګ د تجارت د پرمختګ په برخه کې مهمه دنده تر سره کړي، چې له دې لړ څخه یوه هم د پیسو تبادله ده چې په تدریجي توګه د حواله جاتو اجرا او د قرضونو ورکول هم ورسره مله شول.

خو په مختلفو هیوادونو کې له ټولنیز اقتصادي انکشاف او پرمختګ سره بانکي نظام منځته راغی چې  د خپلو مشخصو دندو او وظایفو له مخې مختلف بانکونه د یوه هیواد د مطروحه قوانینو او مقرراتو مطابق خپل فعالیتونه تنظیم او اجرا کوي.

د بانکونو ماهیت ته په پام سره هغوی  په لاندې ډول ویشل شویدي.

١. مرکزي بانک
٢. تجارتي بانکونه
٣. صرافي بانکونه
۴. صنعتي بانکونه
۵. کرنیز یا زراعتي بانکونه
۶. تعمیراتي بانکونه

د بانکونو له مهمو دندو څخه ځینې یې د مختلفو بانکي حسابونو د پرانستلو له لارې د مشتریانو د اماناتو له راټولولو، انفرادي اشخاصو او شرکتونو ته د قرضونو له ورکولو او مشتریانو ته د نورو بانکي اسانتیاوو له برابرولو څخه عبارت دي، چې د ځانګړیو اصولو او مقراراتو په رڼا کې تر سره کیږي.

همدا شان پدې وروستیو کې د علم او تخنیک د پرمختګ له کبله د بانکدارۍ په برخه کې زیاتې اسانتیاوې را منځته شوي دي، چې له دې لړ څخه د مشتریانو لپاره د انټرنیټ له لارې د بانکي خدمتونو برابرول د یادولو وړ دي، چې د ټولنې د اقتصادي پرمختګ په برخه کې یې رغنده رول تر سره کړی دی.

## د لومړي څپرکي پوښتنې:

۱. لومړنی بانک د نړۍ په کوم هېواد او څه وخت کې منځته راغی ؟
۲. د مرکزي بانک مهمې دندې توضیح کړئ؟
۳. د بانکونو د بیلابیلو ډولونو نومونه واخلئ؟
۴. د تجارتي بانکونو د مهمو دندو نومونه واخلئ؟
۵. د بانکي، تجارتي او صنعتي شرکتونو مشترکه وجه تشریح کړئ؟
۶. C. B. S سیستم څه ډول سیستم دی، د هغه د فعالیت د څرنګوالي په برخه کې معلومات ورکړئ؟
۷. د C. B. S سیستم ګټې او تاوانونه تشریح کړئ؟
۸. هغه موانع او ستونزې چې د C. B. S الکترونیک بانکدارۍ په وړاندې شتون لري، کومې دي، بشپړ معلومات ورکړئ؟
۹. انټرنیټي بانکداري توضیح کړئ؟
۱۰. د انټرنیټي بانکدارۍ اسانتیاوې تشریح کړئ؟
۱۱. د بانکدارۍ اساسي اصول بیان کړئ؟
۱۲. د بانک د اقتصادي وړتیا د اصولو په برخه کې معلومات ورکړئ؟

# دویم څپرکي

## بانکي اصطلاحات او مفاهیم

**ټولیزه موخه:**

د بانکي محاسبې د اساسي مفاهیمو او اصطلاحاتو پیژندنه.

**د زده کړې موخې:** د دې فصل په پای کې محصلین باید لاندې موضوعات توضیح کړای شي:

- بانکي حواله، تلګرافي حواله، د چک ډولونه
- ویسترن یونین او S.W.F.T .
- د قرضونو ډولونه او بانکي ضمانتونه.

۱- **بانکي حواله یا (Bank Draft):** دا له هغه سند څخه عبارت دی، چې بانکونه یې له یوه ځای څخه بل ځای ته د پیسو د لیږد د اسانتیا په موخه خپلو مشتریانو ته برابروي. د پیسو د حواله کولو لپاره بیلابیلې لارې شتون لري او بانکي حواله له هغو لارو څخه یوه ده چې په مرسته یې بانک خپلې شعبې او یا کوم بل معامله دار بانک ته امر کوي، تر څو معین مبلغ د هغه شخص په واک کې ورکړي چې نوم یې په حواله کې ذکر شویدی. یو مدیون شخص کولای شي بانکي حواله واخلي او هغه کس ته یې د پست له لارې و استوي چې په دې باندې قرض لري. په زیاتره مواردو کې یوه بانکي حواله له یوه چک سره ورته والی لري. معمولاً معامله وال بانکونه د خپل صلاحیت لرونکي امضا یا لاسلیک یو له بل سره تبادله کوي. پدې سند کې د صلاحیت لرونکي شخص لاسلیک، نېټه او داسې نور د اهیمت وړ دي .

۲- **تلګرافي یا تلکسي حوالې:** له بانکي حوالې سره د تلګرافي حوالې توپیر پدې کې دی، چې په دې صورت کې دصلاحیت لرونکي شخص له امضاء پرته د شفر له قید سره پیسې استول کیږي.
۳- **چک (Cheque):** چک له هغه لیکلي سند یا پاڼې څخه عبارت دی، چې د هغه د څښتن له لوري کوم مشخص بانک ته صادریږي او بانک ته دستور ورکول کیږي، تر څو معین مبلغ د نوموړي شخص لپاره چې نوم یې په چک کې لیکل شوی دی، ورکړي.

**د چک ډولونه (Kinds of cheque)**

a- چک راوړونکی (Beaver Cheque)
b-سفارشي چک (Order Cheque)
c-کراس شوی چک (Crossed Cheque)

a- **چک راوړونکی (Baever Cheque):** (OR) له هغه سند څخه عبارت دی، چې راوړونکی یې د پیژندنې له سند څخه پرته کولای شي پیسې تر لاسه کړي. په دا ډول چکونو کې چې د راوړونکي په معنا دي په پای کې د پیسو د اخستونکي شخص نوم ذکر کیږي. د دا ډول چک له لارې د پیسو د ورکړې طریقه مصؤنه نده، ځکه که چیرته چک له وړونکي کس څخه ورک شي او پیسې یې د بانک له لوري د ورک چک موندونکي کس ته ورکړل شي، بانک یې کوم مسؤلیت نلري. ځکه بانک ته چک اعتبار لري او د چک وروړونکي کس په برخه کې کوم معلومات نلري.
b- **سفارشي چک (Order Cheque):** په دا ډول چک کې د وروړونکي نوم د اعتبار وړ دی او کرښه لرې کش کیږي. د دا ډو ل چک پیسې یوازې د هغه کس لپاره دي چې نوم یې په چک کې لیکل شوی وي. هغه هم په هغه صورت کې چې نوموړی شخص د پیژندنې دقیق اسناد بانک ته وړاندې کړای شي. له ورته لارې د پیسو ورکړه د (Endorsement) له ډاډ منو میتودونو څخه یو میتود دی، همدارنګه پیسو اخستونکی کولای شي چې د پیسو د ورکړې د (Endorsement) یا اجازه لیک له لارې دا چک بل کس ته وسپاري.
c- **خط وهل شوی چک (Crossed Cheque):** په دې ډول چک کې پاسني کیڼ لوري ته دوه موازي خطونه کش شوي وي.
له دغه ډول چک څخه موخه دا ده، چې دغه چک په نغدي ډول نه اجرا کیږي، بلکې د مشتري په حساب کې اضافه کیږي. د غه چاره د چک په واسطه د پیسو د ورکولو تر ټولو خوندي لاره ګڼل کیږي.

**۴- د بانکي اعتبار کارت (Credit Card):** په عمومي توګه د بانکي اعتبار کارتونه د بانک د مرکزي دفتر له لوري صادرېږي او له هغه وروسته نورو نماینده ګیو ته توزیع کېږي.

د اعتبار په کارت کې د کارت لرونکي نوم، د هغه د حساب شمېره، د کارت د صدور او انقضاء نېټه او د مشتري په برخه کې داسې نور معلومات درج شوي وي.

هغه اسانتیاوې چې له دا ډول کارتونو څخه د استفادې په ترڅ کې مشتریانو ته برابرېږي، د موسساتو له لوري د خدمتونو د تر لاسه کولو، له دوکانونو څخه د اجناسو د اخیستلو، له مغازو او داسې نورو مراکزو څخه د شیانو د تر لاسه کولو له اسانتیاوو څخه عبارت دي. البته په هغو مراکزو کې دغه اسانتیا تر لاسه کولای شي چې پکې د اعتبار کارتونه منل کېږي.

هغه مبالغ چې د دوکانونو او یا نورو پلورنځیو له لوري د بانکي اعتبار په کارت لرونکي باندې حسابېږي، وروسته د بانکې اعتبار د کارت صادرونکي بانک له لوري لاسته راوړل کېږي او هغوی ته ورکول کېږي.

خو یاده دې وي چې د بانکي اعتبار کارتونه یوازې هغو اشخاصو ته ورکول کېږي چې په خپل بانکي حساب کې تعین شوې قانوني پولي وجوه ولري.

دغه ډول کارتونه د هغو بانکونو له لوري ورکول کېږي چې د نړۍ په هر ګوټ کې زیاتې نماینده ګۍ لري.

(Visa Card) هم له کریډیټ کارت یا د بانکي اعتبار له کارت سره ورته دی، چې د بانکونو له لوري خپلو مشتریانو ته ډالۍ کېږي.

**۵- آویز:** اویز له هغې پاڼې یا سند څخه عبارت دی، چې په واسطه یې د بانک له لوري مشتري له کریډیټي یا دبټي معاملاتو څخه خبرېږي. دغه اویزونه د دبتي اوکریدیتي اویزونو په نامه هم یادېږي. ځینې بانکونه دغه اویزونه په یوه رنګ او ځینې نور یې په نورو رنګونو چمتو کوي.

دغه اویزونه د بانک د باصلاحیته اشخاصو له لوري صادرېږي، د ارزونې نېټه چې د ټکټاني د سنجش اساس تشکیلوي، په دبتي او کریدتیي اویزونو کې زیاته مهمه ده.

**د اویز ډولونه:**

**a- کریدیتي آویز:** کریډیټي اویز له هغې پاڼې څخه عبارت دی، چې بانک د هغه په وسیله د مشتري په حساب کې معین مبلغ کرډیټ کوي، او مشتري کتباً د هغه د شتمنۍ له زیاتوالي څخه خبروي چې د مشتري د شتمني دغه زیاتوالی ممکن تحویلي، انتقالي یا

ټکتانه یې عواملو له کبله وي.

b- **دبتي آویز:** دا له هغې پاڼې یا سند څخه عبارت دی، چې بانک مشتري ته د هغه د شتمنۍ له تنقیص یا کمښت څخه اطلاع ورکوي. یعنې د پیسو یو مبلغ د مشتري له حساب څخه د بانک په واسطه دبت شوی دی. باید په یاد ولرو چې د مشتري د شتمنۍ تنقیص یا کموالی پخپله د مشتري د اجازې له کبله صورت نیسي. لکه د مصارفو مجرا، شخصي برداشت او داسې نور.

۶- **د حساب صورت (Statement account):** دا له هغې پاڼې څخه عبارت دی، چې بانکونه یې حساب لرونکو ته په یو معین وخت کې استوي او د مشتري ټول معاملات پکې درج شوي وي. مشتري مکلف دی چې د حساب صورت د راکړې ورکړې هر قلم له خپل حساب سره تطبیق کړي او هغه اقلام چې د مشتري له حساب سره مطابقت نلري، بانک ته باید اطلاع ورکړي.

د حساب په دغه صورت کې نغدې حوالې، انتقالي، چکونه او تحویلي رسیدونه او مستردۍ له تاریخ او نیټې سره یو ځای درج کیږي. د حساب د صورت شکل په لاندې ډول ترتیبیږي:

د حساب شمیره : (۱۰۰۰۲۱۴۵۶)

د حساب صورت: Statement

| بیلانس | کریدت | دبت | تفصیلات | تاریخ |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

احترامانه هیله کیږي چې د پورتنیو اقلامو له صحت او کره والي څخه ډاډ راکړئ.

**۷- د پیسو د انتقال طریقې (Modes of Money Transfer):**

الف- سویفټ (د بانکونو تر منځ د مالي اړیکو نړیواله ټولنه) SWIFT (Society for World Wide Interbank Financial Telecommunications):

سویفټ د پیسو د انتقال او لیږد اداره ده، چې مرکزي دفتر یې د بلجیم د هیواد په بروسلز ښار کې موقعت لري. د سویفټ د نماینده ګیو شمیر -۷۶۵۰- ته رسیږي چې د نړۍ

په سطحه له -۲۰۰- څخه په زیاتو هیوادونو کې شتون لري. د سویفټ دنده له یوه بانکي حساب څخه بل بانکي حساب ته د پیسو له لیږد یا انتقال څخه عبارت ده. مشتریان کولای شي تر -۵۰۰۰- ډالره پورې پرته له کومې ستونزې یوازې له تذکرې یا پاسپورټ څخه په استفادې سره له یوه بانکي حساب څخه بل بانکي حساب ته واستوي. خو که چیرته د مبلغ مقدار تر دغه رقم زیات وي، نو پکار ده چې بانک ته یو معتبر سند وړاندې کړي، چې د پیسو پر قانونیت باندې دلالت وکړای شي.

**نوټ:** عموماً د سویفټ له لارې د حواله جاتو انتقال یا لېږد د ۲۴-۳۶ ساعتونو په اوږدو کې تر سره کیږي.

**ب- د افغانستان د بانکي حسابونو د تصفیې سیستم**

ACSS (Afghanistan Clearing Settlement System)

د افغانستان د بانکي حسابونو د تصفیې سیستم یا ACSS د لاندې مثال په واسطه توضیح کیږي:

مثلاً: د بانک مشتري یو سوداګر دی او د هیواد په مختلفو بانکونو کې حسابونه لري. هغه د خپل کار د اسانتیا په موخه خپلو معامله والو ته د نغدو پیسو په بدل کې چکونه ورکوي. د هغه معامله وال چکونه اخلي او هغو بانکونو ته ورځې، چې خپله حساب پکې لری او د بانک مسؤلینو ته وایي چې تاسو چکونه واخلئ او زما په بانکي حساب کې یې اضافه کړئ.

نو پدې اساس یاد شوی بانک، چکونه اړوندو بانکونو ته استوي او هغوی ته وایې چې د هغه پیسې د مرکزي بانک (د افغانستان بانک) له لارې د پلانکي شخص په بانکي حساب کې اضافه کړئ.

**ج- له یوې نماینده ګۍ څخه بلې نمایده ګۍ ته د پیسو انتقال (Branch to Branch Transfer):**

**مثال:** یو کس د هرات په ښار کې د کابل بانک په نماینده ګۍ کې حساب لري او غواړي چې له خپل بانکي حساب څخه کابل ته پیسې واستوي، نو پدې اساس کولای شي خپلې پیسې له دې لارې حواله کړي. د دا ډول حواله جاتو مقررات داسې دي چې که چیرته د پیسو اخستونکي او استوونکي اشخاص دواړه بانکي حسابونه ولري، له هغه څخه کمیشن نه اخیستل کیږي، خو که چیرته له هغوی څخه یوازې یو بانکي حساب ولري، پدې صورت کې له اخیستونکي شخص څخه معمولي کمیشن اخیستل کیږي.

**د- بین البانکی حواله (Domestic Fund Transfer):** بین البانکي حواله داسې ده چې مثلاً یو تجار په کابل بانک کې بانکي حساب لري او د کندز له ښار څخه کابل ته پیسې استوي، تر څو له یوه لوري د پیسو له امنیت څخه ډاډ من شي او له بل لوري چې د کندز په ښار کې د کابل بانک نماینده ګي شتون نلري، نو پدې اساس هغه د کندز په ښار کې د افغانستان بانک نمایندګي ته مراجعه کوي او ورته وایې چې زما پیسې د کابل بانک په بانکي حساب کې جمع کړئ. د افغانستان بانک مسؤلین د مشتري لپاره یو سند چمتو کوي چې له هغه سند څخه په استفادې سره کولای شي، پخپله کابل بانک ته مراجعه وکړي او خپلې پیسې د کابل بانک له بانکي حساب څخه خپل بانکي حساب ته جمع کړي.

**هـ - Western Union (لوېدیځه اتحادیه):** ویسټرن یونین یو امریکایي شرکت دی، چې په ۱۸۷۱- میلادي کال کې په امریکا کې جوړ شو. ویسټرین یونین د نړۍ په ټولو برخو کې تر ۲۵۰۰۰۰- زیاتې نمایندګۍ لري چې په افغانستان کې یې اصلي نماینده ګي په کابل کې ده.

ویسټرن یونین د پیسو د لیږد را لیږد تر ټولو ګړندۍ او مصئونه شبکه ده . د ویسټرن یونین له لارې د پیسو استولو لپاره د مشتري د تذکرې یا پاسپورټ درلودل اړین دي.

ویسټرن یونین موخه خپلو مشتریانو ته د غوره خدماتو له وړاندې کولو څخه عبارت ده.

استوونکی شخص باید د پیسو استولو په وخت کې بانک ته لاندې معلومات ورکړي:

۱. هغه هیواد او ښار چې غواړي پیسې ور واستوي.
۲. د پیسو ډول باید، ډالر، او د هغو مبلغ په حروفو او اعدادو یعنې په دواړو باندې په دقیقه توګه ذکر شي.
۳. د اخیستونکي شخص بشپړ نوم .
۴. د اخیستونکي شخص د تلیفون شمېره.
۵. د استوونکي شخص د استوګنځای پته.
۶. رمزي او محافظتي سوال او ځواب. (اختیاري).
۷. د پیسو د انتقال فورمه باید د استوونکي شخص له لوري لاسلیک شي.
۸. د پیسو اخیستونکی شخص باید بانک ته لاندې معلومات ورکړي:

الف - د اخیستونکي بشپړ نوم.
ب- پته او هغه شمیره چې ده ته را استول شویده.
ت- د استوونکي بشپړ نوم.
ث- د استوونکي د تلفون شمیره (اختیاري).
ج- د پیسو د انتقال لس محافظتي اعداد یا MTCN۱ Number په دقیقه توګه بانک ته ووایي.
ح- د پیسو ورکولو فورمه باید د اخستونکي شخص له لوري لاسلیک شي.
خ- MTCN= Money Transfer Control Number شمېره یا د حوالې نمبر.

۸- **قرضه (Loans):** قرضه یا کریډیټ له هغو مبالغو څخه عبارت دی، چې بانک یې تر معینو شرایطو لاندې د مشتري د غوښتنې په اساس هغوی ته ورکوي، چې د بیلابیلو ډولونو لرونکې ده.

**۹-د قرضونو ډولونه(types of loans):**

الف- میعادي قرضه ------------------- Fixed Loan
ب- جاري قرضه ------------------ Secured over Draft
ج- اعتمادي قرضه ------ Cash Credit (Hypothecation)
د- ګروي قرضه ----------------- Cash Credit (Pledge)
ذ- د ترانسپورت قرضه ------- Transport Loan
م- مصرفي قرضه ---------------------- Consumer Loan
هـ- موقتي قرضه --------------- Temporary over Draft

**الف- میعادي قرضه (Fixed Loan):** دغه قرضه د لاندې مثال په واسطه تشریح کیږي:
**مثلاً:** یو شخص غواړي د یوه معین وخت لپاره له بانک څخه قرضه واخلي. فرض کړئ، مشتري غواړي -۱۰۰۰۰۰- افغانۍ له بانک څخه د قرضې په توګه تر لاسه کړي، هغه موظف دی تر څو د خپل اباد شوي کور اسناد چې قیمت یې لږ تر لږه د قرضې د مجموعی مبلغ دوه برابره وي، د بانک په نامه کړي. د دې لپاره چې که د سیاسي لاملونو له کبله د جایداد او املاکو د پلور قیمت نزول وکړي او بانک متضرر نشي، له همدې امله دوه برابره ضمانت غوښتل کیږي.

**د بانکي قرضې شرطونه:**

۱. مشتری باید بانک ته د خپل پولي درآمد سند وړاندې کړي. د بانک د عدم قناعت په صورت کې مشتري ته قرضه نه ورکول کیږي.
۲. مشتري باید د خپل تضمیني ملکیت سند د بانک په نامه کړي او د قرضې د بیرته مجراینې تر وخته دغه اسناد له بانک سره پاتي کیږي.
۳. له هغه وخته چې د قرضونو پیسې د مشتري په بانکي حساب کې اضافه کیږي، تر بیرته پریکیدلو پورې په مشتري باندې له -۱۵٪- څخه، تر -۲۰٪- ګټه اضافه کیږي.

**ب- جاري قرضه (Secured over Draft):** جاري قرضه هغې قرضې ته ویل کیږي، چې د معتبرو اسنادو په مقابل کې مشتري ته ورکول کیږي. وروسته لدې څخه چې پیسې د مشتري په بانکي حساب کې اضافه شي. که چیرته مشتري له خپل حساب څخه پیسې و ایستلې او د هغې ورځې تر پایه پورې یې بیرته بانک ته دغه قرضه ور مجرا کړه، نو هیڅ ډول ګټه ورباندې نه حسابیږي، خو که چیرته د هغې ورځې په سبا باندې پیسې بیا بانک ته ور ادا کړل شي، نو د همدغې یوې ورځې مفاد هم ترې اخستل کیږي.

**د پاملرنې وړ:**

۱. مشتري ته نغدې پیسې نه ورکول کیږي، بلکې د هغه په بانکي حساب کې اضافه کیږي.
۲. د قرضونو د وخت اوږدوالي په تناسب له مشتري څخه د قرضونو سود اخستل کیږي.
۳. د ورته قرضې سود له ۱۵٪ څخه تر ٪ ۲۰ وي.

**ج- د ګروي قرضه (Cash Credit (Pledge):** د ګروي قرضه د لاندې مثال په واسطه بیانیږي:

مثلاً یو تجار غواړي له کوم بهرني هیواد څخه تجارتي مال وارد کړي، خو پیسو ته اړتیا لري او غواړي چې له بانک څخه قرضه واخلي. په ورته صورت کې کوم داسې جایداد او ملکیت نلري چې بانک ته یې د تضمین په دود وسپاري، خو د خپلو اموالو په ګدام کې یو لړ تجارتي اموال لري، نو پدې اساس هغه کولی شي خپل تجارتي مالونه بانک ته د ګرو په توګه ورکړي او د قرضې د پیسو تر بیرته ادا کیدلو پورې دغه اموال بانک ته په ضمانت وسپاري.

بانکونه د مشتري د اموالو د څېړلو په وخت کې لاندې ټکي په پام کې نیسي:

۱. له تجارتي اموالو څخه د استفادې کولو نیته باید تیره شوي نه وي.
۲. تجارتي مالونه باید د غوره کیفیت لرونکي وي.
۳. تجارتي مالونه باید بیمه شوي وي، تر څو د هغوی د له منځه تللو په صورت کې بانک متضرر نشي.
۴. ګدام باید د بانک له لوري کولپ مهرو لاک شي.
۵. یو تن څوکیدار د ګدام د ساتنې په موخه د بانک له لوري ګمارل کیږي.
۶. د څوکیدار معاش او مصارف د قرض اخستونکي تاجر په غاړه دي.

**د- اعتمادي قرضه Cash Credit (Hypothecation):** اعتمادي قرضه هم د لاندې مثال په توګه واضیح کیږي:

**مثلاً:** یو تجار چې ورځنی کاروبار یې پر ښه توګه په مخ روان دی، خو د تجارت د پراختیا په موخه غواړي له بانک څخه قرضه واخلي.

بانک هغه ته د هغه اوسني تجارت د اعتماد له کبله قرضه ورکوي او لاندې موارد په نظر کې نیسي.

۱. د مشتري د کاروبار د سطحې څېړنه او د قناعت په صورت کې بانک هغه ته قرضه ورکوي.
۲. دولت ته د مشتري د مالیې ورکولو اسناد څېړل کیږي.
۳. پېرودونکی باید په خپل دوکان کې دشته اجناسو ټول لیست بانک ته وړاندې کړي.
۴. له قرض اخستلو څخه وروسته مشتري باید د هرې اوونۍ په پای کې د پلورل شویو اجناسو لست بانک ته وسپاري.
۵. د بانک له لوري د دوکان د اموالو د ساتني په موخه یو کس څوکیدار ګمارل کیږي چې مصارف به یې د قرض اخستونکي مشتري په غاړه وي.

**هـ - ترانسپورټی قرضه (Transport Loan):** دغه ډول قرضه د موټر، موټرسایکل او داسې نورو نقلیه وسایلو د اخیستلو په موخه مشتریانو ته ورکول کیږي.

د ترانسپورټي قرضې د ورکولو شرایط

۱. مشتري باید د قرضې د مجموعي مبلغ له لړ څخه ۲۰٪ خپله ولري.
۲. د موټر یا موټرسایکل د اخیستولو ټول اسناد د پیسو د بیرته ورکولو تر نیټې پورې د بانک په نامه کیږي.

۳. د دغې قرضې وخت له یوه څخه تر پنځو کلونو پورې رسیږي او د قرضې پیسې باید د همدغې مودې په اوږدو کې د بیلابیلو قسطونو په ترځ کې بانک ته ورکړل شي.

**و- مصرفي قرضه (مشتری) (Consumer Loan):** دغه قرضه داسې ده. د مثال په توګه د یوه وزارت کارکوونکی چې په تجارتي بانکونو کې حساب ولري او وغواړي چې خپل میاشتنی معاش د دریو یا څلورو میاشتو لپاره په وړاندې یا اډوانس ډول واخلي.

د دغه ډول قرض اخیستلو لپاره لاندې مدارکو ته اړتیا ده:

١- مشتري باید له خپل اړوند وزارت څخه خپله پیژند پاڼه بانک ته راوړي چې په وزارت کې د هغه د برحالۍ تصدیق وکړای شي.

٢- مشتري باید له خپل اړوند وزارت څخه یو مکتوب راوړي، تر څو بانک اجازه تر لاسه کړي چې دغه کس ته څو میاشتنې معاش له وخت نه وړاندې ورکړي.

د دغه ډول قرضې پیسې د میاشتني قسط په توګه د مشتري له معاش څخه ورکول کیږي.

**ی- مؤقتي قرضه (Temporary Loan ):** دغه ډول قرضه د مهمو یا VIP اشخاصو لپاره ورکول کیږي.

د مثال په توګه د هیواد د وزیرانو له لړ څخه یو یې د بانک له رییس یا معاون سره پیژندګلوي لري او غواړي چې د څو ساعتونو لپاره له بانک څخه قرضه واخلي او له څو ساعتونو وروسته یې بیرته بانک ته ور ادا کړي.

یاده دې وي چې دغه قرضه د زماني معیاد له مخې څو فیصده مفاد هم اعاده کوي.

**١٠- بانکي ضمانتونه (Guarantees of Bank):** ضمانت یا ګرنټي له هغه مقدار پیسو څخه عبارت ده چې بانک یې د قرارداد کولو په جریان کې له مشتري څخه د اعتبار د ایجاد په موخه اخلي او د هغه له سر رسید څخه وروسته بیرته مشتري ته ورکول کیږي.

**١١- د بانکي ضمانتونو ډولونه Types of Guarantees**

١. د اوطلبۍ ضمانت --------------Bid Bond Guarantee

٢. د کاري کیفیت ضمانت------Performance Bond Guarantee

٣. د ساختمانۍ کار د بشپړتیا ضمانت -Retention Money Bond Guarantee

۴. محافظتي ضمانت ---------Maintenance Bond Guarantee

۵. شخصي ضمانت -----------------Counter Guarantee

**الف-  د داوطلبۍ ضمانت (Bid Bond Guarantee):** د داوطلبۍ ضمانت د لاندې مثال په واسطه روښانه کیږي:

د مثال په توګه د عامې روغتیا وزارت غواړي چې د هیواد په یوه ښار کې یو روغتون جوړ کړي او موضوع د پروژې له ټولو خصوصیاتو سره یو ځای  د تلویزیون یا ورځپاڼې له لارې ساختماني شرکتونو ته اعلان کړي او هغو ته بلنه ورکړي تر څو د یادې شوې پروژې په داوطلبۍ کې ګډون وکړي.

ټول ساختماني شرکتونه کاري خصوصیات، مبالغ او داسې نور موارد محاسبه کوي او په خپل پشنهاد کې یې ځای په ځای کوي د ضمانت په توګه یې له څو سلنې پیسو سره جوخت د عامې روغتیا وزارت ته سپاري. د عامي روغتیا د پروژې له لازمې څیړنې وروسته پروژه هغه شرکت ته ورکوي چې د برآورد قیمت یې کم او د ضمانت رقم یې  زیات وي.

د داو طلبۍ ضمانت لدې کبله اخیستل کیږي، چې که چیرته یاد شوی ساختماني شرکت د پروژې له اخیستلو وروسته د ځینو دلایلو له کبله پیښمان شي او د هغې له تطبیق کیدلو څخه انکار وکړي، نو تحویل شوی ضمانت بیرته نه ورکول کیږي او د جریمې یا ناغې په ډول حسابیږي.

**ب- د کاري کیفیت ضمانت (Performance Bond Guarantee):** فرض کړئ چې د عامې روغتیا پروژه له دواطلبۍ څخه وروسته یوه ساختماني شرکت وګټله ده. اوس نو د عامې روغتیا وزارت څو سلنه پیسې د کاري کیفیت د ضمانت په توګه له ساختماني شرکت څخه ترلاسه کوي چې یاد شوی ساختمانې شرکت یې د همدغه ضمانت په ورکولو مجبور دی، تر څو خپل کار په معیاري توګه تر سره کړي. له دې پرته هغه پیسې چې د کاري کیفیت د ضمانت په توګه یې د عامې روغتیا وزارت ته سپارلی دي ترې ګرځي او د شکایت حق نه ورکول کیږي.

**ج- د ساختماني چارو د بشپړتیا ضمانت (Retention Money Bond):** دا ضمانت هم د یوه مثال په واسطه روښانه کوو:

مثلاً: یو تجارتي بانک غواړي کومه نماینده ګي تاسیس کړي. هغه ساختماني شرکتونه چې د بانک د دغې څانګې د اعمار چارې یې په غاړه اخیستي، باید یو مقدار پیسې د کار د پشپړتیا د ضمانت په توګه بانک ته وسپاري. د تعمیراتي کارونو د ځینې جزیي برخو د نه بشپړیدا په صورت کې بانک کولای شي د شرکت له اړوند ضمانتي پیسو څخه د کار د پشپړتیا په برخه کې استفاده وکړي او اضافي پیسې بیرته هغوی ته ورکړي.

**د- محافظتي ضمانت (Maintenance Bond Guarantee):** دغه ضمانت هم د مثال په توګه داسې تشریح کیږي:

مثلاً: د انټرکانټینینټال هوټل مالک خورا مصروف دی او نشي کولای له خپل هوټل څخه په سمه توګه څارنه وکړي او د مشتریانو ورځ ستونزې حل کړي. نو پدې اساس هغه په یوه ورځپاڼه کې اعلانوي چې یوه داسې کس ته اړتیا ده، تر څو له هوټل او د مشتریانو له ځینو ورو ستونزو څخه په سمه توګه څارنه وکړي او هغه حل کړي. هغه کس چې دغه ډول مسؤلیت پر خپله غاړه اخلي، یو مقدار پیسې د ضمانت په توګه د هوټل مالک ته سپاري او له هغه سره ژمنه کوي چې مشتریانو ته به د شکایت کولو موقع نه ورکوي.

د دغه شخص دندې په لاندې ډول دي:

- د هوټل د اوبو رسولو د سیستم ترمیم.
- د برقي سامان آلاتو ترمیم، خریداري او داسې نور.

که چیرته ونکړای شي، دغه ستونزي حل کړي، د هغه د ضمانت پیسې ضبتیږي او له دندې څخه ګوښه کیږي.

**هـ- شخصي ضمانت (Counter Guarantee):** د نورو هغو په څېر دغه موضوع هم د یوه مثال په توګه واضیح کوو:

مثلاً: ستاسو له دوستانو څخه کوم یو پیسو ته اړتیا لري او له تاسو څخه د قرضې غوښتنه کوي خو له تاسو سره دومره پیسې نشته چې د هغه اړتیا پوره کړئ. نوورته وایاست چې زه په خپل ضمانت تا ته له بانک څخه قرضه اخلم. تاسو له بانک نه په خپل نامه د هغه لپاره قرضه اخلئ، دغه پیښه د شخصي ضمانت د یوې بیلګې په دود وړاندې کولای شو.

**د دویم څپرکي د مطالبو خلاصه**

بانک د خپل فعالیت او مالي راپور د چمتو کولو په موخه د لاندې اصطلاحاتو زده کړې ته اړتیا لري:

۱. **بانکي حواله:** بانکي حواله له هغه سند څخه عبارت ده، چې بانک یې له یوه ځای څخه بل ځای ته د پیسو د لیږد په موخه چمتو کوي. د بانکي حوالې لرونکی کولای شي د بانک په نمایندګیو کې هغه مقدار پیسې تر لاسه کړي، چې په سند کې درج شوي وي. د ورته حوالې پر مخ باندې لاسلیک کول اساسي شرط ګڼل کیږي.

۲. **چک:** له هغې پاڼې څخه عبارت دی، چې د جارې حساب لرونکی یې د صادرولو په واسطه کولای شي له خپلو پیسو یا امانت څخه چې په بانک کې دي، اخسته وکړي. او مختلف ډولونه لري.

۳. **کریډیټ کارټ:** دا له هغه کارت څخه عبارت دی، چې د بانک د مرکزي دفتر له لوري خپلو مشتریانو ته د بیلا بیلو اسانتیاوو د برابرولو په موخه ورکول کیږي

۴. **آویز:** آویز له هغه سند څخه عبارت دی، چې په واسطه یې د بانک له لوري مشتري ته د شتمنۍ د کموالي او زیاتوالي معلومات ورکول کیږي.

۵. **د حساب صورت:** دا له هغې پاڼې څخه عبارت دی چې د مشتري د یوې معیني دورې معاملات پکې ځای په ځای شوي وي.

۶. د پیسو د انتقال طریقې.

۷. د بانکي قرضې ډولونه.

۸. د بانکي ضمانت ډولونه.

بانکونه د سویفټ، ویسټرن یونین، بین البانکي حوالې او داسې نورو میتودونو له لارې کولای شي له یوه بانک څخه بل بانک او له یوه ځای څخه بل ځای ته د پیسو د لیږد له کبله د خپلو مشتریانو خوښي او رضایت تر لاسه کړي.

همدا شان بانکونه د بانکي ضمانتونو په مقابل کې خپلو مشتریانو ته په بېلابېلو ډولونو قرضونه ورکوي.

## د دویم څپرکي پوښتنې

۱- بانکي حواله څه ډول سند دی، په اړه یې خپل معلومات ولیکئ او له تلګرافي حوالې سره یې پرتله تشریح کړئ؟
۲- چک تعریف کړئ او د ډولونو نمونه یې واخلئ؟
۳- سفارشي چک توضیح کړئ؟
۴- کریډیټ کارټ او ویزا کارټ تعریف کړئ او ووایاست چې دغه ډول کارتونه تر کومو شرایطو لاندې د بانک مشتریانو ته ورکول کیږي؟
۵- آویز تعریف کړئ او د ډولونو نمونه یې واخلئ؟
۶- د حساب صورت توضیح کړئ؟
۷- قرض تعریف کړئ او د ډولونو په برخه کی یې معلومات ولیکئ؟
۸- بانکي ضمانت څه شی دی او د کاري کیفیت د ضمانت په اړه معلومات ولیکئ؟
۹- د S. W. I. F. T کلمه تعریف کړئ او ووایاست چې د دغې کلمې بشپړ مفهوم څه دی؟
۱۰- تر کومو شرایطو لاندې مشتریان کولای شي د ویسټرن یونین له خدماتو څخه استفاده وکړي؟

## د بانکي حسابونو ډولونه
## Kind of Bank Account

**ټولیزه موخه:**
د بانکي حسابونو د اصطلاحاتو او مفاهیمو سره پيژندګلوي.

**د زده کړې موخې:** د دې فصل په پای کې محصلین باید لاندې موضوعات توضیح کړای شي:
- دبانکي حسابونو معرفي او د هغوی د ډولونو توضیح.
- په اړوندو دفاترو کې د بانکي معاملاتو درج کول.
- د پایلې تثبیت او د بانک د بیلانس شیټ ترتیب کول.

د تجارتي بانکونو له دندو او فعالیتونو څخه یوه هم له مختلفو منابعو څخه د پیسو را غونډول دي. پدې اساس بانکونه د انفرادي اشخاصو، شرکتونو او نورو مالي او غیرمالي موسساتو لپاره د هغوی د غوښتنې او تقاضا مطابق بیلابیل بانکي حسابونه پرانیزي.

خلک او شرکتونه د لاندې دلایلو له کبله خپلې پیسې بانکونو ته سپاري:

**الف- د پیسو خوندیتوب:** یعنې له ورکېدو او غلا څخه د مخنیوي په موخه پیسې بانک ته سپارل کیږي.

ب- د منفعت یا سود د لاسته راوړلو په موخه.

ج- بانکي خدمات: د بانکي اسانتیاوو بانکي خدمتونو څخه د استفادې په موخه.

د- له بې ځایه مصارفو څخه د مخنیوي په موخه.

دبانکي حسابونو مهم ډولونه په لاندې ډول دي:

۱. جاري حساب Current Account
۲. د پس انداز حساب Saving Account
۳. د معيادي امانت حساب Fixed Account
۴. اعتبار نامه Letter of Credit

**جاري حساب (Current Account):**

جاري حساب د بانکي حسابونو له لړ څخه تر ټولو مهم هغه ګڼل کيږي. د جاري حساب لرونکي کولای شي، هر وخت چې وغواړي په خپل حساب کې پيسې اضافه کړي او يا يې له هغه څخه وباسي. د دغه ډول حساب لرونکي لپاره د چک اسانتيا هم برابريږي.

جاري حسابونه تر ډيره ځايه د سوداګرو له لوري پرانيستل کيږي، تر څو د هغوی پولي اړتياوې په هر وخت کې پوره شي.

بانکونه د جاري حساب لرونکو لپاره مفاد نه حواله کوي. برسيره پردې ځينې وختونه له دغه ډول حسابونو څخه ناڅاپي کميشن هم اخيستل کيږي.

مشتري کولای شي د جاري حسابونو له لارې زياتې پيسې له يوه شخص څخه بل شخص ته او يا له يوه بانکي حساب څخه بل بانکي حساب ته انتقال کړي.

جاري حساب حد اقل د $۵۰۰ اويا د هغه معادل افغانيو په مقابل کې پرانستل کيږي. په ځينو بانکونو کې چې له دې جملې څخه کابل بانک هم دی، دوه ډوله جاري حسابونه پرانيستل کيږي.

۱. شخصي جاري حساب Current Account Individual
۲. تجارتي جاري حساب Current Account Corporate

شخصي جاري حساب د هغو تاجرانو له لوري پرانيستل کيږي، چې له دولت سره ثبت او راجستر شوي نه وي، خو تجارتي جاري حساب د تجارتي شرکتونو او انجيوګانو. له لوري پرانيستل کيږي چې د کار جواز لري.

د يوه شرکت لپاره د جاري حساب د پرانيستلو شرايط په لاندې ډول دي:

۱. د کار جواز.
۲. د کار پلان.
۳. د موسسې د رئيس تذکره يا پاسپورټ.

دغه حساب د بانک د پسیفي حسابونو له لړ څخه شمیرل کیږي او یو قصیر المدت دین اروزل کیږي، چې په لاندې توګه په خپل اړوند حساب کې سنجش او ثبت کیږي:

مثال: یو کس پر ۲-۲۰ نیټه یو جاري حساب پرانیزي او په خپل حساب کې ۲۵۰۰۰ افغانۍ اضافه کوي. په پورتنۍ تادیه برسیره لاندې معاملات هم تر سره شویدي:

| | | |
|---|---|---|
| ۱. پرداخت په | ۲-۳۰ نیټه | مبلغ ۱۰۰۰۰ افغانی |
| ۲. پرداخت په | ۳-۴ نیټه | مبلغ ۱۵۰۰۰ افغانی |
| ۳. برداشت په | ۳-۸ نیټه | مبلغ ۲۰۰۰۰ افغانی |
| ۴. برداشت په | ۳-۱۸ نیټه | مبلغ ۱۲۰۰۰ افغانی |
| ۵. پرداخت په | ۳-۲۰ نیټه | مبلغ ۱۲۰۰۰ افغانی |
| ۶. برداشت په | ۳-۳۰ نیټه | مبلغ ۱۵۰۰۰ افغانی |

د حساب شمیره : ۳۰۲۹۷

| تاریخ | تفصیلات | دبت, D | کریدیت , C | بیلانس |
|---|---|---|---|---|
| ۲-۲۰ | حساب پرانستنه | | ۲۵۰۰۰ | ۲۵۰۰۰ |
| ۲-۳۰ | پرداخت | | ۱۰۰۰۰ | ۳۵۰۰۰ |
| ۳-۴ | پرداخت | | ۱۵۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ |
| ۳-۸ | برداشت | ۲۰۰۰۰ | | ۳۰۰۰۰ |
| ۳-۱۸ | برداشت | ۵۰۰۰ | | ۲۵۰۰۰ |
| ۳-۲۰ | پرداخت | | ۱۲۰۰۰ | ۳۷۰۰۰ |
| ۳-۳۰ | پرداخت | | ۱۵۰۰۰ | ۵۲۰۰۰ |

**۲- د پس انداز حساب (Saving Account):** د پس انداز حساب د بانک د حسابونو له لړ څخه یو بل مهم توکی دی، چې د معین وخت تابع نه وي او د ګټتانې نرخ پکې ثابت وي. په دغه ډول حساب کې کوچني مبالغ هم منل کیږي، چې د کم عایده افرادو په واسطه چې د سپما مقدار یې دومره لوړ نه وي، پس انداز کیږي. دغه ډول حساب د خلکو په منځ کې د پیسو د سپما عادت د ترویج په برخه کې مهم رول لري، چې زیاتره وخت د دولتي کارمندانو، شاګردانو، هټې والو او داسې نورو له لوري پرانیستل کیږي.

حساب لرونکي ته د پس انداز کتابچه ورکول کيږي، چې د پيسو د راکړې ورکړې په وخت کې بايد کتابچه يا کارت موجود وي، تر څو د پيسو ورکول او جمع کول په کتابچه کې وليکل شي. بانک د سپما د حسابونو لپاره په کلني ډول ۵٪ گټه مفاد اضافه کوي.

کله چې دورته حساب لرونکي وغواړي خپل حساب بند کړي، د مصرف په نوم يو مبلغ د بانک له لوري وضع کيږي. د ورته حسابونو لرونکي کولای شي تر ځانګړيو شرايطو لاندې له خپل حساب څخه پيسې وباسي. دغه حساب هم د بانک د پيسفي حسابونو له لړ څخه شميرل کيږي. که څه هم د پس انداز د حساب وخت معلوم ندی، خو بيا هم قصيرالمدت يا لنډ مهاله دين شميرل کيږي.

د ورته موضوع د درک لپاره د پس انداز حساب معاملات په نظر کې نيسو او د ژورنال په يوه دفتر کې يې ليکو :

۱. په ۱۵/۳ نيټه د حساب پرانسته مبلغ ۱۰۰۰۰
۲. په ۳۰/۶ نيټه تاديه مبلغ ۲۰۰۰
۳. په ۱۶/۸ نيټه برداشت مبلغ ۴۰۰۰
۴. په ۲۰/۹ نيټه برداشت مبلغ ۸۰۰۰
۵. په ۱۵/۱۱ نيټه برداشت مبلغ ۵۰۰
۶. په ۲۰/۱۲ نيټه تاديه مبلغ ۴۰۰

دغه پوښتنه د افغانستان بانک د پس انداز د شرايطو مطابق په لاندې مراحلو کې حل کيږي:

۱. په لومړي سر کې يو جدول ترتيبيږي.
۲. تاديه شوي او برداشت شوي مبالغ د جاري حساب په توګه په معينو ستونونو کې کريډيت او دبت کيږي.
۳. د هرې تاديې او برداشت تر منځ زماني فاصله ګورو. په داسې ډول چې د تاديې له سبا ورځې څخه وخت حسابيږي.

۳۰- ۱۲ نېټه

$$\frac{10-3}{10-9}$$ نېټه معامله

او يا د لومړۍ معاملې موده ۹ مياشتې او ۱۰ ورځې کيږي چې ټولې ۲۸۵ ورځې شوې.

۱- هر تادیاتي قلم یا برداشت په جلا توګه د مجموعي ربعې مطابق سنجش کوو.

$$\text{ربع} = \frac{\text{نرخ ربع x مدت x سرمایه}}{100 \times 360}$$

۲- د کال په پای کې کولای شو د پس انداز په سرجمع باندې ور اضافه کړو. د هر پرداخت او برداشت د ربعې سنجش د ټکتانې له ۹٪ نرخ سره په لاندې ډول سنجش کولای شو:

د لومړۍ معاملې ربح $= \frac{1000x285x9}{100x360} = \frac{71.25}{712.5}$

د دویمې معاملې ربحه $= \frac{200x18x9}{1x36} = \frac{90}{9}$

د درېیمې معاملې ربحه $= \frac{400x135x9}{100x360} = 135$

د څلورمې معاملې ربحه $= \frac{8000x100x9}{100x360} = 200$

د پنځمې معاملې ربحه $= \frac{500x46x9}{100x360} = 5/75$

د شپږمې معاملې ربحه $= \frac{400x10x9}{100x360} = \frac{10}{1}$

د پس انداز د ټکتانې د سنجش صورت :

افغان ملی بانک — نوم او پته-------------

کابل افغانستان — صفحه — د حساب شمیره-------------

| پروف | بی‌لانس | بیلانس | کردیت | دبت | تاریخ | مدت | نوې ټکتانه: کردیتی | نوې ټکتانه: دبتی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | - | ۱۰۰۰۰ | ۱۰۰۰۰ | - | ۱۵-۳ | ۲۸۵ | ۷۱۲/۵ | |
| | ۱۰۰۰۰ | ۱۲۰۰۰ | ۲۰۰۰ | - | ۳۰-۶ | ۱۸۰ | ۹۰ | |
| | ۱۲۰۰۰ | ۸۰۰۰ | - | ۴۰۰۰ | ۱۶-۸ | ۱۳۵ | | ۱۳۵ |
| | ۸۰۰۰ | ۱۶۰۰۰ | ۸۰۰۰ | - | ۲۰-۹ | ۱۰۰ | ۲۰۰ | |
| | ۱۶۰۰۰ | ۱۵۵۰۰ | - | ۵۰۰ | ۱۵-۱۱ | ۴۶ | | ۵-۷۵ |
| | ۱۵۵۰۰ | ۱۵۹۰۰ | ۴۰۰ | - | ۲۰-۱۲ | ۱۰ | | |
| مجموع | ۱۵۹۰۰ | ۱۶۷۶/۷۵ | ۸۶۱/۷۵ | | | | ۱۰۰۲/۵ | **۱۴۰/۷۵** |

کریډیټي ټکټانه ۱۰۰۲/۵

ډبټي ټکټانه ۱۴۰/۷۵ او په نوي کال کې قشري دارايي = ۱۶۷۶۱/۷۵

د پرداخت وړ ټکټانه = ۸۶۱/۷۵

کولای شو یاد شوي سوالونه په خپل اړوند دفتر کې په لاندې ډول ثبت کړو:

د پس انداز حساب

| C | | D |
|---|---|---|
| ۱- | پرداخت-۱۰۰۰۰- | -۴۰۰۰- برداشت |
| ۲- | پرداخت -۲۰۰۰- | -۵۰۰- برداشت |
| ۳- | پرداخت -۸۰۰۰- | ۱۶۷۶۱/۷۵ (بقیه بیلانس) |
| ۴- | پرداخت -۴۰۰۰- | |
| | ټکټانه مخارج-۸۶۲/۷۵- | |

۲۱۲۶۱/۷۵ = ۷۵/۲۱۲

**د میعادي امانت حساب (Fixed Deposit Account):**

میعادي حساب له هغه بانکي حساب څخه عبارت دی، چې د بانک او مشتري ترمنځ له کتبي قرارداد څخه وروسته تحقق مومي. په داسې ډول چې یو معین مبلغ د معین وخت لپاره د مشتري له لوري په بانک کې اچول کیږي او د معین وخت له پای ته رسیدلو سره سم د بانک له لوري له سود سره یو ځای مشتري ته ورکول کیږي.

هغه معیاد چې د دغه ډول بانکي حساب لپاره ټاکل کیږي له دریو میاشتو، شپږو میاشتو، نهو میاشتو او یوه کال څخه عبارت دی.

هغه اشخاص چې کافي سرمایه لري او په ورته حال کې غواړي خپلې پیسې په مصؤن او ډاډ من ډول سرمایه ګذاري کړي، نو په دا ډول حسابونو کې یې ساتي.

د میعادي پس انداز حساب په زیاتره بانکونکو کې حد اقل د $۵۰۰ په مقابل کې پرانیستل کیږي او په کلنۍ توګه نژدې ۶٪ او یا له هغه څخه هم زیات مفاد ورکول کیږي.

د میعادي پس انداز حساب لرونکي نشي کولای په معمولي توګه له خپل حساب څخه د بل شخص لپاره پیسې و استوي. ځکه هغه مکلف دی تر څو د میعادي پس انداز له حساب څخه د پیسو اخستلو د معینو قوانینو مطابق ملاتړ وکړي. مشتري نشي کولای د تعین شوي

معیاد له ختمیدلوتر مخه له خپل حساب څخه پیسې وباسي. خو د تخلف په صورت کې باید له یو مقدار سود یا مفاد څخه تیر شي.

مشتریانو ته د غوره خدماتو د وړاندې کولو په موخه بانک حاضر دی، څو د معیادي پس انداز لرونکو ته قرضه ورکړي او دهغه په بدل کې له مشتري څخه یو مقدار کمیشن یا سلنه واخلي.

د معیادي پس انداز حساب یو ډول مطمینه او ډاډمنه پانګه اچونه ده. چې بانک یې د ټا کلې مودې په جریان کې پېرودونکي ته دهغه د ګټې لاسته راوړنې په موخه ورکوي. خو کله چې تعین شوی وخت پای ته ورسیږي، د معین وخت په پای کې مشتري مجبور دی چې د خپل ډیپوزیټ اخیستلو په باره کې بانک ته خبر ورکړي. کله چې د مشتري له لوري بانک ته خبر ورکړل شي، بانک یاد شوی امانت د موقت امانت په حساب کې ږدي.

باید په یاد ولرو چې د معیادي پس انداز د حساب لرونکو لپاره د چک کتابچه نه ورکول کیږي. ځکه کله چې د معیادي پس انداز حساب پرانستل کیږي، نو په یوه مهر شوي سند باندې ژمنه کوي چې تر معین وخت پورې له معیادي  پس انداز شوي مبلغ څخه نه پیسې اخلي او نه یې ور جمع کوي.

د دغه سند له مخې مشتري کولای شي یوازې د تعین شوي معیاد له ختمیدلو وروسته په خپل بانکي حساب کې پیسې اضافه او یا یې ترې وباسي. د دې لپاره چې پدې حساب کې یوازې یو ځل پیسې اضافه کولای شو او یوازې یو ځل له هغه څخه پیسې ایستلی شو، نو له همدې کبله مشتري د چک کتابچې ته اړتیا نلري.

د غه حساب هم د بانک د پیسفي حسابونو له لړ څخه ګڼل کیږي او د بانک د لنډ مهاله دین په توګه فرض کیږي.

**د میعادي امانت حساب دپرانیستلو شرایط:**

د دغه ډول حساب د پرانیستلو لپاره تذکره یا پاسپورټ  او حد اقل ۵۰۰ ډالر او یا د هغو معادلې افغانۍ ضروري دي .که چېرته د دغه ډول حساب معیاد زیات وي، یعنې یو کال او یا له هغه څخه زیات وي نو د مفاد سلنه یې هم زیاتیږي.

که چیرته مشتري وغواړي له تعین شوي معیاد څخه تر مخه پیسې واخلي، د مفاد په سلنه کې یې کموالی راځي، خو په زیاتره بانکونو کې د دا ډول حسابونو د ترلو مصارف نه اعاده کیږي.

**سیکل ټیبل ( Cycle Table):**

دا له هغې ځانګړې پاڼې څخه عبارت ده، چې په یوه معین وخت کې د معیادي امانت، قرضې، پس انداز او داسې نورو حسابونو د ټکټاڼې سنجش پکې ښودل شوی وي.

معمولاً شپږ میاشتني سنجشونه صورت نیسي او د هغې د کاپي په واسطه مشتري ته اطلاع ورکول کیږي. د ټکټاڼې په سنجش کې زیاتره بانکونه  د کار د اسانتیا او چټکتیا په موخه یوه میاشت یا ۳۰ او یا یو کال یا ۳۶۰ ورځې محاسبه کوي. که څه هم د مبالغو د تادیې او برداشت له ورځو سره په تړاو د ټکټاڼې د سنجش په برخه کې همغږي نشته، خو اصول داسې دي، چې له وروستي تاریخ څخه لومړنی تاریخ تفریق کیږي او وخت تر لاسه کیږي.  څنګه چې په بانکونو کې د ټکټاڼې سنجش مهم دی، نو پدې اساس  د ټکټاڼې د سنجش لپاره په لاندې توګه یو سیکل ټیبل په نظر کې نیسو .

مثال: د تیر کال د بیلانس په اساس د احمد د قرضې پاتې برخه نژدې ۹۰۰۰۰ افغانۍ او د ټکټاڼې سلنه یې ۱۲٪ ده، د نوي کال په اوږدو کې احمد په لاندې ډول د قرضې په حساب کې تادیه کوي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱- | په | ۱-۱۶ | ۱۲۰۰۰ افغانی مبلغ | تادیه |
| ۲- | په | ۳-۲۰ | ۵۰۰۰ افغانی مبلغ | تادیه |
| ۳- | په | ۴-۱۱ | ۶۰۰۰ افغانی مبلغ | تادیه |
| ۴- | په | ۶-۷ | ۹۰۰۰ افغانی مبلغ | تادیه |
| ۵- | په | ۸-۳ | ۸۰۰۰ افغانی مبلغ | تادیه |
| ۶- | په | ۱۰-۲۸ | ۴۰۰۰ افغانی مبلغ | تادیه |
| ۷- | په | ۱۲-۱۲ | ۱۵۰۰۰ افغانی مبلغ | تادیه |

**د قرضې پاتې مبلغ او کلنۍ ربع په لاندې ډول سنجش کوو:** د کار د اسانتیا په موخه د ربعې د سنجش فرمول اختصار کوو یعنې یوه سلنه سرمایه په وخت کې ضربوو او په پای کې د ربعې عدد پر دیرشو باندې ویشو او بلاخره  د قرضې ربعه پر سرمایه باندې ور علاوه کوو او راتلونکي کال ته یې انتقالوو.

لاندې حسابي جمله په سمه توګه نه ده توضېح شوې، نو ځکه د و ضاحت وړاندیز یې کیږي.

د مثال په توګه

$$\frac{\text{سرمایه x مدت x نرخ}}{\text{بیه x وخت}} \quad \frac{۹۰۰۰۰x۱۶x۱۲}{۱۰۰x۳۶۰} = \frac{۹۰۰۰۰x۱۶x۱۲}{۱۰۰x۳۶۰} = \frac{۹۰۰۰۰x۱۶}{۳۰}$$

| شمېره | تاریخ | تفصیلات | d-c | مبالغ | موده | دربعې شمېر (مدت*یک فیصد) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۰ | تیر کال ۳۰-۱۲ | د تیرکال پاتې شونې | | ۹۰۰۰۰ | ۱۶ | ۱۴۴۰۰ |
| ۱ | ۱-۱۶ | تادیه | | ۱۲۰۰۰ | | |
| ۲ | ۲-۳ | تادیه | | -۷۸۰۰۰<br>-۵۰۰۰ | ۶۴ | ۴۹۹۲۰ |
| ۳ | ۱۱-۴ | تادیه | | ۷۳۰۰۰<br>-۶۰۰۰ | ۲۱ | ۱۵۳۳۰ |
| ۴ | ۷-۶ | تادیه | | -۶۷۰۰۰<br>۹۰۰۰ | ۵۶ | ۳۷۵۲۰ |
| ۵ | ۳-۸ | تادیه | | -۵۸۰۰۰<br>-۸۰۰۰ | ۵۶ | ۳۲۴۸۰ |
| ۶ | ۲۸-۱۰ | تادیه | | ۵۰۰۰۰<br>۴۰۰۰ | ۸۵ | ۴۲۵۰۰ |
| ۷ | ۱۲-۱۲ | تادیه | | ۴۶۰۰۰<br>۱۵۰۰۰ | ۴۴ | ۲۰۲۴۰ |
| ۸ | ۳۰-۱۲ | تکتپانه قرضه | | ۳۰۰۰۰<br>۷۲۵,۶۶۴ | ۱۸ | ۵۴۰۰ |
| راتلونکي کال ته يې لیږد | | | | | | ۲۱۷۷۹۰/30=۷۲۵۹,۶۶۶ |

د احمد لپاره د بانک د طلباتو حساب کولای شو په لاندې ډول د لیجر په دفتر کې ولیکو:

پر احمد باندې طلبات

| C | D |
|---|---|
| ۱۶/۱ بانک -۱۲۰۰۰- | ۱/۱ تاریخ AB ۹۰۰۰۰ لومړۍ موجودي |
| ۲۰/۳ بانک -۵۰۰۰- | ۷۲۵۹,۶۶ د بانک د ربعې حاصلات |
| ۱۱/۴ بانک -۶۰۰۰- | |
| ۷/۶ بانک -۹۰۰۰- | |
| ۳/۸ بانک -۸۰۰۰- | |
| ۲۸/۱۶ بانک -۴۰۰۰- | |
| ۱۲/۱۲ بانک -۱۵۰۰۰- | |
| د احمد د قرضې پاتې بیلانس ۳۸۲۵۹,۶۶۴ | |
| ۹۷۲۵۹,۶۶۴ | ۲۷۲۵۹,۶۶۴ |

د بانک کسه

| C | D |
|---|---|
| | AB , 500000 |
| | ۱۲۰۰۰ – له طلباتو څخه |
| | ۵۰۰۰ – له طلباتو څخه |
| | ۶۰۰۰ – له طلباتو څخه |
| | ۹۰۰۰ – له طلباتو څخه |
| | ۸۰۰۰ – له طلباتو څخه |
| | ۴۰۰۰ – له طلباتو څخه |
| | ۵۰۰۰ – له طلباتو څخه |

د پس انداز د حساب ټیبل په لاندې ډول ترتیب کولای شو:

د پس انداز د حساب د سیکل ټیبل

| شمیره | تاریخ | تفصیلات | D/C | مبلغ | ورځ | موده* یوه سلنه سرمایه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۵-۳ | د حساب پرانستنه او تادیه | C | ۱۰۰۰۰ | ۱۰۵ | ۱۰۵۰۰ |
| ۲ | ۳۰-۶ | تادیه | C | +۲۰۰۰<br>-۱۲۰۰۰ | ۴۶ | ۵۵۲۰ |
| ۳ | ۱۶-۸ | برداشت | D | -۴۰۰۰<br>-۸۰۰۰ | ۳۴ | ۲۷۲۰ |
| ۴ | ۲۰-۹ | تادیه | C | +۸۰۰۰<br>-۱۶۰۰۰ | ۵۵ | ۸۸۰۰ |
| ۵ | -۱۱ | برداشت | D<br>C | -۵۰۰<br>-۱۵۵۰۰ | ۳۵ | ۵۴۲۵ |
| ۶ | ۱۵ | تادیه | C | +۴۰۰<br>۱۵۹۰۰ | ۱۰ | ۱۵۹۰ |
| | | په راتلونکي کال کې د مشتري دارايي | | ۱۶۷۶۳,۷۵<br>انتقال – راتلونکي کال ته | ۲۸۵ | ۳۴۵۵۵ |

$$\text{ربع}=\frac{34555}{40}=86375$$

**بانکي باورليک Letter of Credit, L/C:**

**الف: د بانکي باورليک پيژندنه:** ليټرآف کريډيت يا باورليک له هغه سند څخه عبارت دی، چې د بانکدارۍ په چارو کې په مخفف ډول يوازې L/C ليکل کيږي او په نړيوال تجارت کې مهم رول لوبوي.

بانکونه د تجارتي معاملاتو د تر سره کيدلو په برخه کې د اسانتياوو د رامنځته کيدلو په موخه په مختلفو سيمو کې خپلو مشتريانو ته په ځانګړې توګه سوداګرو ته بانکي باورليکونه يا ليټرآف کريډيټ پرانيزي. تجارتي باورليکونه هغه وخت تاجرانو ته ورکول کيږي چې صادرونکی شرکت يا تاجر د اجناسو له استولو تر مخه له واردونکي شرکت څخه د تسليمۍ د سند غوښتنه وکړي. په ورته حالت کې د اموالو واردونکی شخص له بانک څخه د کميشن په بدل کې غوښتنه کوي، تر څو هغه ته بانکي باورليک چمتو کړي او له دغه بانکي باورليک څخه په استفادې سره له صادرونکي شرکت څخه د اجناسو د تسليمۍ سند تر لاسه کړي.

د ليټر آف کريډيت مقصد دا دی چې د پلورونکي او اخستونکي په منځ کې چې له بيلابيلو هيوادونو څخه دي او يو د بل له اقتصادي او تجارتي وضعيت څخه خبر نلري، د معامله والو بانکونو په واسطه چې يو له بل سره پوره پيژندګلوي او ځواکمنې تجارتي اړيکي لري، ترڅو د هغې په اساس پلورنکی ډاډ تر لاسه کړي، چې د پلورل شوي جنس قيمت تر لاسه کولای شي او اخستونکی ډاډ تر لاسه کوي، چې اخيستل شوی جنس هغه ته تسليميږي. نو پدې ډول معامله کې د پيرودونکي او پلورونکي بانکونه دخالت کوي.

د بانکي باورليک يا , Letter of Credit د پرانيستلو شرطونه په لاندې ډول دي:

۱. **د بانکي باورليک غوښتنه:** د بانکي باورليک لپاره د غوښتنې فورمه د بانک له لوري مشتري ته ورکول کيږي چې له وارداتي جنس سره په تړاو ټول معلومات پکې درج کيږي.

۲. **د غوښتنې د فورمې تحقيق او بررسي:** بانک د مشتري په اړه د لاندې مواردو په هکله خپل اطمينان تر لاسه کوي.

الف: د مشتري مالي او اقتصادي دريځ.

ب : د باورليک د صدور لپاره موجود مبلغ

ج : د مالونو له واردونکي تاجر سر ه د قانوني جواز شتون.

۳- **بانک ته د ضمانت په توګه د یو مقدار پیسو سپارل:** بانک له مشتري څخه غواړي تر څو د خپل مالي ځواک له مخې یو مقدار مبلغ بانک ته د ضمانت په توګه حواله کړي.

۴- **د بانکي باورلیک صدور:** د اړتیا وړ معلوماتو له بشپړتیا څخه وروسته یاد شوی بانک د ورادونکي شرکت د غوښتنې له مخې بانکي باورلیک چمتو کوي او د اموالو صادورنکي شخص او یا د هغه بانک ته استول کیږي.

۵- **د اموالو انتقال:** د اموالو صادرونکي ته د باورلیک له وررسېدلو وروسته هغه یاد شوی باورلیک بررسي کوي او د باورلیک د شرایطو منلو په ترڅ کې واردونکي تاجر ته د اموالو په استولو لاس پورې کوي او باورلیک ورته سپارل کیږي. د اړتیا وړ اسنادو له لازمې بررسۍ وروسته باورلیک د پرداخت لپاره د واردونکي بانک ته بیا سپارل کیږي.

۶- **د صادرونکي بانک مسؤلیتونه (د باورلیک پرانستونکي):** صادرونکي بانک ته د باورلیک او سپارنې (تحویل دهي) سند له بیا رجعت وروسته د لازمو تحقیقاتو له تر سره کولو وروسته لاس په کار کیږي، تر څو د اموالو صادرونکي ته پیسې ورکړي. دهغه پریکړه لیک له مخې چې دبانک او د بانکي باورلیک د غوښتونکي تر منځ صورت نیسي، د اموالو د کیفیت او فزیکي موجودیت په برخه کې بانک هیڅ ډول مسؤلیت نلري، یوازنی مسؤلیت یې د باورلیک د قانوني اسنادو بشپړول دي چې پر غاړه یې لري.

باید په یاد ولرو چې د بانکي باورلیک یا Letter of Credit له صدور سره په تړاو معامله وال بانک یوازې د اسنادو د استولو مسؤلیت لري، نه دا چې اجناس ور استوي.

۷- **په بانکي باورلیک کې تخفیف:** ځینې وخت تاجر او د اجناسو صادرونکی شرکت کولای شي، له وخت نه وړاندې د یوه تخفیف په بدل کې خپلې پیسې له وخت څخه د مخه تر لاسه کړي.

**ب: د بانکي باورلیک ډولونه (Kind of Letter of Credit):** د هغه تعهد او ژمنې له مخې چې د صادرونکي بانک له لوري تر سره کیږي، بانکي باورلیک بیلابیل ډولونه لري چې

ځينې يې په لاندې ډول دي:
١- د صادرونکي بانک د ژمني له مخې د باورليک ډولونه.
٢- د استعمال د موادو له مخې د باورليک ډولونه.
٣- د بانک د تعهد له مخې د باورليک ډولونه.

a. **ضمانت شوي باورليک (Letter of Credit Confirmed):** هغه باورليک دی چې د اړونده حوالې د تادیې ضمانت پکې شوی وي.
b. **نا ضمانت شوې باورليک (Letter of Credit Confirmed):** دا هغه باورليک دی، چې د يوه باورليک بڼه لري خو صادرونکي بانک يې د حوالې د تادیې ضمانت پر غاړه نه وي اخستی.
c. **فسخه شوی باورليک (Letter of Credit Irrevocable):** دا هغه باورليک ده، چې د معين موعد له اختتام نه وړاندې نشي فسخه کيدلای.

**ج : د باورليک اسناد:** د باورليک د معاملې اسناد له هغو اوراقو او پاڼو څخه عبارت دي، چې پلورنکی يې بايد اخستونکي ته تسليم کړي، چې البته تسليمي يې د معامله والو بانکونو له لارې صورت نيسي او د دغو اسنادو په واسطه د اجناسو له لېږد څخه ډاډ تر لاسه کيږي او پېرودونکی کولای شي په واسطه يې خپل اجناس تسليم کړي.
ياد شوي اسناد په لاندې ډول دي:

١- **بارنامه (بارپاڼه)(Bill of Loading):** بارنامه يا د بار چالانی اسناد له هغې پاڼې څخه عبارت ده، چې د اموالو د استوونکي شرکت له لوري، معمولاً د کشتۍ چلولو د شرکت له لوري تصديق او امضا کيږي او نهايې بندر يا د پېرودونکي بندر ته د اموالو د رسيدلو ډاډ ورکوي.
٢- **بل يا بيجک (Invoice):** دا له هغه سند څخه عبارت دی چې د اموالو لېست، قيمت، مقدار او د اجناسو نور مشخصات، د تحويل شرايط او داسې نور پکې درج شوي وي، د استونکي له لوري چمتو کيږي او پېرودونکي ته استول کيږي. اينوايس معمولاً په څو کاپيو کې چمتو کيږي.

**د : د امتعې د استولو لپاره نړیوال شرایط:**

۱- **له کارګاه یا فابریکې څخه (Ex Work – Ex Factory):** تر دغو شرایطو لاندې دا ینوایس پر مخ باندې د کرایې مصارف، د ترانسپورټ مصارف او د اخستونکي تر دستګاه پورې ټول مصارف درج وي، چې پدې صورت کې د اخېستونکي لپاره د برابرولو هیڅ ډول مصارف نه واقع کیږي، خو د پلورنکي لپاره ځانګړي انفرادي مصارف منځته راځي.

۲- **له لګښت پرته تر نقلیه وسیلې پورې بار(Free on Board):** پدې صورت کې تر کشتۍ پورې یا تر لومړي بندره پورې ټول مصارف د صادروونکي پر غاړه دي، خو د صادروونکي له بندرځای څخه د اخېستونکي تر بندرځای پورې ټول مصارف د اخستونکي پر غاړه وي .

۳- **د ترانسپورټ کرایه او د جنس قیمت (Cost and Fright):** تر دغو شرایطو لاندې د جنس د قیمت تادیه او د اموالو بیمه د اخېستونکي له لوري تر سره کیږي.

۴- **کرایه، ترانسپورټ ،بیمه او د جنس قیمت (C. I. F) Cost Insurance Fright:** تر دغو شرایطو لاندې د اخېستونکي تر ټاکلي ځایه پورې د کرایې مصارف او بیمه د پلورونکي پر غاړه وي. د هغو فوایدو له مخې چې دغه شرایط لري، افغاني تجار هڅه کوي، تر څو له بهرنه خپل واردات د (C. I. F) شرایطو په صورت کې تر سره کړي.

هـ - **د باورلیک اجراآت (Cover Account):** بانکونه د وارداتي لیټر آف کریډیټ د پرانېستلو په موخه د وارداتي امتعې ۱۰۰٪ اویا کومه بله سلنه قیمت، په لومړي سر کې له مشتري څخه اخلي او پاتې سلنه یې د ټکټانې په مقابل کې قرض ورکوي او له هغه وروسته د باورلیک په تیارولو باندې لاس پورې کوي. بانکي باورلیک د معین وخت تابع وي، د مثال په توګه ۹۰،۱۲۰ ورځې او داسې نور، تر څو امتعه پلورونکي وکړای شي، یاد شوي اموال چمتو او لیږد ته یې اماده کړي.

پدې توګه د پېرودونکي بانکونه له خپلو مشتریانو سره د مرستې په موخه د LIC مبالغ

د باندنیو معامله دارو بانکونو د معیادي امانت په حسابونو کې چې د Corer Account په نامه یادیږي، ږدي او تر هغه وخته د تسلیمۍ اجازه نه ورکوي، څو پلورنکي اموال استوي.

د بار چالانۍ اسناد یعنې , Bill of Loading، د باربندئ لېست, pecking List ، د بیمې اسناد, of Insurance هوایي بارپاڼه, Air Way Bill او د (LIC) ټول اړوند اسناد معامله وال بانک ته تسلیمیږي او په مقابل کې یې له Cover Account څخه پیسې یا د امتعې قیمت تر لاسه کوي او د پلورنکي بانک دغه اسناد پېرودونکي بانک ته استوي.

باید په یاد ولرو چې د افغان ملي بانک، کابلبانک او داسې نورو په څېر بانکونه د باندنیو هیوادونو په یو لړ ښارونو لکه لندن، نیویارک، هامبورګ او داسې نورو کې خپلې نماینده ګۍ لري، تر څو وکولای شي د افغانۍ واردونکو لپاره یادې شوې اسانتیاوې چمتو کړای شي.

بانکونه د ورته خدمتونو په مقابل کې له خپلو مشتریانو خاصتاً د LIC حساب لرونکو څخه اسعاري، کلوک، خدماتي او تبادلوي کمیشنونه اخلي او د کریډیټ ورکولو په صورت کې ټکتانه ترې اخیستل کیږي.

د مثال په توګه احمد د پښتني بانک د مشتریانو له ډلې څخه دی، چې د لیټر آف کریډیټ حساب یې پرانستی دی او ٪۱۰۰ تادیه شویدی. همدا شان په ورته بانک کې جاري حساب هم لري، چې AFs ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ یې پکې جمع کړیدي. هغه پدې بانک کې یو بل جاري حساب پرانیزي تر څو $ ۱۵۰۰۰ پکې واچوي. هغه غواړي د چاپان له هیواد څخه د پنځوسو بخاریو د واردولو لپاره د ۱۲۰ ورځو یوا .C.I Lحساب د ۵۰۰۰ ډالرو سره پرانیزي. په جاپان کې د پښتني بانک معامله وال بانک دجاپان دتوکیو بانک (Tokyo Bank) دی او په ټوکیو بانک کې د پښتني بانک ۲۰۰۰۰ ډالر جمع دي.

پلورونکي د LIC حساب له پرانستلو ۱۱۵ ورځې وروسته امتعه واستوله او د لازمو اسنادو له تحویلۍ وروسته یې د هغې قیمت تر لاسه کړ. ټوکیو بانک خپل اسناد پښتني بانک ته واستول او پښتني بانک یوه سلنه اسعاري کیمشن، یو سلنه خدماتي او تبادلوي کمیشن، نیمه سلنه کلوک کیمشن او ۲۰۰ افغانۍ د متفرقه مصارفو له مخې تر لاسه کوي، د یوه ډالر قیمت له پنځوسو افغانیو سره معادل دی.

په ژورنال کی دمعاملاتو درج په لاندې ډول دی:

| شمیره | تاریخ | تفصیلات | C/L | کردیت | دبت |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۵/۱۲ | د اسعارو له جاري حساب څخه نغدې<br>اسعارو ته | | ۱۵۰۰۰$ | ۱۵۰۰۰ |
| ۲ | ۱۷/۱۲ | د اسعارو جاري حساب ته<br>د لیټر اف کریډیټ له حساب څخه | | ۵۰۰۰ | ۵۰۰۰$ |
| ۳ | ۱۸/۱۲ | له ټوکیو بانک څخه | | ۵۰۰۰ | ۵۰۰۰$ |
| ۴ | ۲۸/۱۲ | د احمد جاري حساب ته<br>د ډالري کمیشن له حاصلاتو څخه | | ۵۰ | ۵۰$ |
| ۵ | ۲۸/۱۲ | د احمد افغاني جاري حساب ته<br>له حاصلاتو څخه | | ۲۵۰ | ۲۵۰ |
| ۶ | ۲۸/۱۲ | د احمد جاري افغاني حساب ته<br>له متوک حاصلاتو څخه | | ۱۲۵ | ۱۲۵ |
| ۷ | ۲۸/۱۲ | د احمد جاري افغاني حساب ته<br>له متفرقه حاصلاتو څخه | | ۲۰۰ | ۲۰۰ |
| ۸ | ۲۸/۱۲ | LICته<br>له C/A څخه | | ۵۰۰۰ | ۵۰۰۰$ |

د بانک د کمېشن حساب په لاندې ډول سنجش شویدی:

( ۱$ = ۵۰ Afs)

۱- ۵۰$ = $\frac{5000x1}{100}$ = (۱٪) د معیادي کمېشن حاصلات

۱۰۰

۲- Af ۲۵۰ = Afs ۵۰ x ۵$ , ۵$ = $\frac{5000x1}{100}$ =۱٪ د خدماتي کمیشن حساب

۳- Af ۱۲۵۰ = ۵۰ x ۲۵ , ۲۵$ = $\frac{5000 \times \%5}{100}$ =۰٪. ۵ متلوک حاصلات پر افغانیو.

دغه معاملات په ليجر کې په لاندې ډول درج کيږي:

د احمد جاري حساب (افغانۍ)

| D | C |
|---|---|
| 250-د کميشن له حاصلاتو څخه، افغانۍ | 1000,000 – ABلومړنۍ موجودي |
| 1250-له متلوک حاصلاتو څخه | |
| 200 له ټولو حاصلاتو څخه | |

د احمد جاري اسعاري حساب

| D | C |
|---|---|
| 5000 له 2-LIC څخه | 15000$ – 1 اسعاري کسې ته |

د بانک اسعاري کسه

| D | C |
|---|---|
| 15000$ له جاري حساب څخه-1 | AB – 1000,000 لومړنۍ موجودي |
| 50$ له کميشن څخه-4 | |

ليټر اف کريډيټ LIC

| D | C |
| --- | --- |
| 5000-3 د حساب تصفیه | 5000-2$ |
| 5000-8 | S,O |
| | 5000 |

Bank of Tokyo

| D | C |
| --- | --- |
| AB - 20,000$ | ۳-۵۰۰۰$ |
| | C/A ته |

د اسعاري کمیشن حساب

| D | C |
| --- | --- |
| | ۴- ۵۰$ |
| | نغدو ته |

د کمیشن حاصل افغانۍ

| C | D |
|---|---|
| ۵-۲۵۰ د احمد جاري حساب ته | |

کلوک حاصلات

| C | D |
|---|---|
| ۶-۱۲۵۷<br>د احمد جاري حساب ته | |

**دویم مثال:** احمد چې د پښتني بانک د مشتریانو له ډلې څخه دی، د افغانیو په خپل جاري حساب کې ۴۰۰۰۰۰ افغانۍ لري، او غواړي چې د چاپان له هیواد څخه د کمپیوټر د اخستلو لپاره د ۱۲۰ ورځو لپاره د ۵۰۰۰ زرو ډالرو LIC حساب پرانیزي، خو ۴۰٪ پیسې په نغده توګه پرې کوي او پاتې ۶۰٪ د ۱۲۰ ورځو لپاره د بانک له لوري مشتري ته کریډیټ ورکول کیږي. د پښتني بانک معامله وال بانک په توکیو کې دی او پښتني بانک په هغه بانک کې ۲۰۰۰۰ ډالر دارایي لري. اخېستونکی د LIC له پرانېستلو ۱۲۰ ورځې وروسته جنس د بار چالانۍ موسساتو له لارې وراستوي او د لازمو اسنادو له سپارنې وروسته يې هغه تر لاسه کوي. بانک د مشتري لپاره د ترسره شویو خدمتونو په بدل کې لاندې کمیشنونه تر لاسه کوي چې په لاندې ډول سنجش کیږي:

$1\$ = 50$ AFs

$50\$ = \frac{5000 \times 1}{100} = 1\%$ د اسعاري کمیشن حاصلات

$= 5\$ / 5 \times 50 = 250$ AFs $\frac{5000x1}{1000} = 1\%$ د خدماتي کمیشن حاصلات

$= 25\$ / 25 .50 = 1250$ AFs $\frac{\%5 \times 5000}{5000} = \%. 5$ .0% متلوک حاصل

400 AFs = متفرقه حاصلات

12% = د ټکتاني نرخ

$40\% \ LIC = \frac{5000x40}{100} = 2000$

$60\% \ LIC = \frac{5000x60}{100} = 3000$

افغانی 6000 = 120 x 50 / $120\$ = \frac{3000x12x120}{100x360} =$ ټکتانه حاصلات

د ژورنال دفتر

| شمیره | تاریخ | تفصیلات | LIC | کریدت | دبت |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱/۴ | ډالري کسې ته له LIC څخه | | ۲۰۰۰$ | ۲۰۰۰$ |
| ۲ | ۱/۴ | طلباتو ته له LIC څخه | | ۳۰۰۰$ | ۳۰۰۰$ |
| ۳ | ۱/۴ | C/A ته له توکیو بانک څخه | | ۵۰۰۰$ | ۵۰۰۰$ |
| ۴ | ۲۵/۱۲ | ډالري کسې ته د کمیشن له حاصل څخه | | ۵۰$ | ۵۰$ |
| ۵ | ۲۵/۱۲ | د احمد جاري حساب ته د کمیشن له حاصلاتو څخه | | ۲۵۰ | ۲۵۰ |
| ۶ | ۲۵/۱۲ | د احمد جاري حساب ته له متلوک حاصلاتو څخه | | ۱۲۵۰ | ۱۲۵۰ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۲۵/۱۲ | د احمد جاري حساب ته له ټولو حاصلاتو څخه | | ۴۰۰ | ۴۰۰ |
| ۸ | ۲۹/۱۲ | د احمد جاري حساب ته‌د ټکټانې له حاصلاتو څخه | | ۶۰۰۰ | ۶۰۰۰ |
| ۹ | ۲۹/۱۲ | ډالري کسې ته له طلباتو څخه | | ۳۰۰۰$ | ۳۰۰۰$ |
| ۱۰ | ۲۹/۱۲ | LIC ته له C/A څخه | | ۵۰۰۰$ | ۵۰۰۰$ |

**د ليجر دفاترو ته د معاملاتو انتقال او تجزيه**

| د احمد جاري حساب | |
|---|---|
| C | D |
| AB – 400,000 لومړی موجودي | ۲۵۰- ۵ د کمیشن له حاصلاتو څخه افغانۍ<br>۱۲۵۰- ۶ له متلوک حاصلاتو څخه<br>۴۰۰ - ۷ له ټولو حاصلاتو څخه<br>۶۰۰۰ - ۸ د ټکټانې مصارف |

LIC ليټراف کريديت

| C | D |
|---|---|
| ۲۰۰۰$ – ۱نغدو ته ۳۰۰۰$<br>– ۲طلباتو ته | |

ډالري کيسه

| C | D |
|---|---|
| | ۲۰۰۰$ - ۱ له LIC څخه<br>۵۰$ – ۴<br>د کمیشن له حاصل څخه |

په ټوکيو کې د بانک دارايي

| D | C |
| --- | --- |
| | ۵۰۰۰ – ۳ C-A ته |

طلبات

| D | C |
| --- | --- |
| $۳۰۰۰ –۲ له LIC څخه | |

C/A

| D | C |
| --- | --- |
| ۵۰۰۰ – ۳ د ټوکيو بانک له دارايي څخه | |

ټول حاصلات

| D | C |
| --- | --- |
| | ۴۰۰ – ۷ د ډالرو جاري حساب ته |

متلوک حاصلات

| D | C |
|---|---|
| | ۱۲۵۰ – ۶<br>د احمد جاري<br>حساب ته |

د کمیشن حاصلات افغاني

| D | C |
|---|---|
| | ۲۵۰ – ۵<br>د احمد جاري حساب ته |

د کمیشن حاصلات ډالري

| D | C |
|---|---|
| | $ ۵۰ – ۴نغدو ته |

د ټکټاني حاصلات

| D | C |
|---|---|
| | ۸۰۰۰ – ۸<br>د احمد جاري حساب ته |

**له پخوانیو درسونو پایله اخستنه او عملي صورت (د بانک عمومي محاسبه)**

د پس انداز حساب، جاري حساب او LIC حساب اړوند معاملات او موضوعات چې مخکې مطالعه شول، ټول یوازې په فرعي محاسبه کې مطالعه شول. هغه پوښتنې او معاملات چې له یادو شویو موضوعاتو سره په تړاو حل شول؛ د جاري، پس انداز او L/C په شعبو کې چې ټول یې د محاسبې فرعي شعبې دي، اجرا کیږي. خو څنګه چې زموږ موخه له یادو شویو موضوعاتو سره په تړاو عمومي محاسبه ده، نو پکار ده چې دغه معاملات په عمومي محاسبه کې هم ثبت کړو.

د مثال په توګه د جاري حساب د پوښتنې نمونه، چې په فرعې محاسبه کې ثبت شوه، په عمومي محاسبه کې هم ثبتوو. د بانک خزانه دار او د جاري حساب شعبه، هره ورځ د خپل ورځني کار په پای کې خپل حسابونه سنجش کوي، یو له بل سره یې معامله او مقایسه کوي . باید د یوه مبلغ سرجمع چې په جاري حساب کې کریډیت شوی دی، د نغدو په حساب کې ډبټ شوی وي. همدا شان له خپلو اړوندو حسابونو څخه د مشتریانو د برداشت سرجمع ډبټ کیږي او د نغدو له حساب څخه کریډیټ شوی وي او یا په بل عبارت، پکار ده چې په معین وخت کې د نغدو فرعي حساب او جاري حساب یو تر بله د موازنې په حال کې وي. که چیرته اړوند اعداد یو له بل سره مطابقت ونلري، نو ښکاره ده چې کومه تیروتنه را منځته شویده او د هغې د اصلاح لپاره باید هغې پیل او اصلاح شي.

کله چې اعدا یو له بل سره مطابقت پیدا کړي پکار ده، چې د راکړې ورکړې د راپور په هکله عمومي محاسبې ته معلومات ورکړل شي.

په معینه نیټه د مشتریانو د تادیاتو سرجمع ۷۵۰۰۰ افغانۍ او د هغو د برداشت سرجمع ۲۲۰۰۰ دی. عمومي محاسبې ته دغه راپور د یوه سند معنا لري او د ثبتېدو قاعده او اصول یې په لاندې ډول دي:

| تفصیلات | C | D |
|---|---|---|
| نغدو ته | | |
| له جاري حساب څخه | ۷۵۰۰۰ | ۷۵۰۰۰ |
| جاري حساب ته | | |
| له نغدو څخه | ۲۲۰۰۰ | ۲۲۰۰۰ |

**پوښتنه:** د هغه پس انداز نمونه چې مخکي مو مطالعه کړه، په عمومي محاسبه کې د فرعي محاسبې په اساس وه، د ثبت قاعده يې په لاندې ډول ترتيبيږي:

**عمومي محاسبې ته د پس انداز د څانګې راپور:**

د مشريانو د پرداختونو سرجمع د پس انداز حساب ته۲۰۴۰۰

د مشتريانو د برداشتونو سرجمع د پس انداز حساب ته ۴۵۰۰

د کال په پای کې د پس انداز د حساب لپاره ټکټانه سنجش شويده ۸۶۱,۷۵ افغانۍ

| Debit | Credit | تفصيلات |
|---|---|---|
| ۲۰۴۰۰ | | نغدو ته |
| | ۲۰۴۰۰ | د پس انداز له حساب څخه |
| ۴۵۰۰ | | د پس انداز حساب ته |
| | ۴۵۰۰ | له نغدو څخه |
| ۸٦۱,۷۵ | | د ټکټانې مصارفو ته |
| | ۸٦۱,۷۵ | د پس انداز له حساب څخه |

د ليترآف کريدت L/C شعبه هم د فرعي محاسبې په توګه په معينو وقفو کې په لنډه توګه د خپلو فعاليتونو ښودنه کوي، څو دهغه ثبتېدل په لنډه توګه ترسره شي.

د موضوع د غوره درک لپاره عمومي محاسبه لاندې اقلام چې له يوه بانکي شرکت څخه منځته راغلي دي، په نظر کې نيسو:

ارقام په افغانيو

- تعمير ۱۰۰۰۰۰۰
- تجهيزات ۴۰۰۰۰۰
- طلبات ۴۰۰۰۰۰
- بدهی ۶۰۰۰۰۰
- پس انداز ۱۲۰۰۰۰۰
- په باندني بانک کې دارايي ۹۰۰۰۰۰
- په داخلي بانک کې دارايي ۶۰۰۰۰۰
- کسه ۷۰۰۰۰۰
- جاري حساب ۸۰۰۰۰۰
- سرمايه ؟

**د بانک د افتتاحیه بیلانس ترتیب**

په ۱/۱/۸۴ نیټه د بانکي تصدۍ افتتاحیه بیلانس

| Active | Passive | دحسابونو نوم |
|---|---|---|
| | | ثابته دارايي : |
| | | - تعمیر |
| ۱۰۰۰۰۰۰ | | - تجهیزات |
| ۴۰۰۰۰۰ | | جاري دارايي : |
| | | - طلبات |
| ۴۰۰۰۰۰ | | - کسه |
| ۷۰۰۰۰۰ | | - په داخلي بانک کې دارايي |
| ۶۰۰۰۰۰ | | - په خارجي بانک کې دارايي |
| ۹۰۰۰۰۰ | | قرضونه او سرمایه: |
| | ۶۰۰۰۰۰ | - دیون |
| | ۱۲۰۰۰۰۰ | - پس انداز |
| | ۸۰۰۰۰۰ | - جاري حساب |
| | ۱۴۰۰۰۰۰ | - سرمایه |
| سرمایه ۱۴۰۰۰۰۰ | د دارايي او سرمایې مجموعه ۴۰۰۰۰۰۰ | د دارايي مجموعه ۲۶۰۰۰۰۰ |

۱۴۰۰۰۰۰=۲۶۰۰۰۰۰-۴۰۰۰۰۰۰

**د معاملاتو جریان:**

۱- په ۱/۱۰ نیټه جاري حساب ته د پیرودونکو د پرداختونو سرجمع ۴۰۰۰۰۰ افغانۍ او له همدې حساب څخه د پیرودونکو د برداشتونو سرجمع مبلغ ۳۵۰۰۰۰ افغانۍ دی.

۲- په ۱/۱۰ نیټه د پس انداز حساب ته د پیرودونکو د پرداختونو سرجمع ۴۵۰۰۰۰ افغانۍ او له همدې حساب څخه د پیرودونکو د برداشتونو سرجمع ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ دی او همدا شان د پس انداز د حساب لپاره ۳۵۰۰۰ افغانۍ ټکټانه سنجش شویده.

۳- په ۲۰/۱۰- نیټه د غیر خالص معاشاتو تادیه ۴۰۰۰۰

۴- د معاشاتو کسرات ۵۰۰۰

۵- په ۲۰/۱۰ – نیټه د ټکټانې حاصلات د طلباتو له مدرکه نقداً حاصل شویدي ۵۰۰۰۰

۶- په -۳۰/۱۰ – نیټه د داخلي او خارجي بانکونو د دارایۍ له مدرکه د ټکټانې حاصلات ۶۰۰۰۰ ثبتېږي.

۷- په -۱۰/۱۰ – نیټه د بارچالانۍ د کمیشن حاصلات اخستل کیږي ۵۰۰۰۰

۷۱۰/۱۲ – د لیټر اف کریډیټ د شعبې د معلوماتو په اساس ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ L/C افتتاح شویدی چې له همدې جملې څخه ٪۳۰ نغدې تادیه شویدي اوپاتې٪۷۰ د بانک له لوري کریډیټ ورکول شویدی، په ٪۱۰ نرخ سره د ۱۲۰ ورځو لپاره.

۸۱۱/۱۲ – د L/C شعبه ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ خپل اړوند باندني بانک ته انتقالوي.

اختتامیه اقلام

- د تعمیر استهلاک ٪۱ د تهیې له قیمت څخه
- د تجهیزاتو استهلاک ٪۱۰ د برابرولو له قیمت څخه

د ژورنال د دفتر ترتيب

| Debit | Credit | L/F | تفصيلات | تاريخ | شمېره |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰ | | نغدو ته<br>له جاري حساب څخه | ۱/۱۵ | 1 |
| | ۳۵۰۰۰ | | جاري حساب ته<br>له نغدو څخه | | |
| | ۴۵۰۰۰۰ | | نغدو ته<br>د پس انداز له حساب څخه | ۱/۱۵ | ۲ |
| | ۲۵۰۰۰۰ | | د پس انداز حساب ته له<br>نغدو څخه | | |
| ۳۵۰۰۰ | ۳۵۰۰۰ | | د ټکټاني مصارفو ته<br>د پس انداز له حساب څخه | ۲۰/۱۰ | ۳ |
| ۵۰۰۰ | ۵۰۰۰ | | د معاشاتو مصرف ته<br>له نغدو څخه | | |
| ۵۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ | | کسه<br>د ټکټاني حاصل | ۲۰/۱۰ | ۴ |
| ۶۰۰۰۰ | ۶ | | بانکي دارايي ته<br>د ټکټاني له حاصلاتو څخه | ۳۰/۱۰ | ۵ |
| ۵۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ | | نغدو ته<br>د کميشن له حاصل څخه | ۱۰/۱۱ | ۶ |
| ۶۰۰۰۰ | ۶۰۰۰۰ | | نغدو ته<br>له L/C څخه | ۱۰/۱۲ | ۷ |
| | ۱۴۰۰۰۰ | | طلباتو ته<br>له L/C څخه | ۱۱/۱۲ | ۸ |
| | ۲۰۰۰۰۰ | | C/A ته<br>د باندني بانک له دارايۍ<br>څخه | ۲۵/۱۲ | ۹ |
| ۱۰۰۰۰<br>۴۰۰۰۰ | ۱۰۰۰۰<br>۴۰۰۰۰ | | د کال د پای اقلام:<br>د تعمير استهلاک ته<br>د تجهيزاتو استهلاک ته ۱۰٪<br>له تجهيزاتو څخه | | |

کسه

| C | D |
|---|---|
| له جاري حساب ځخه ۳۵۰۰۰۰ – ۲ | AB – ۷۰۰۰۰۰ |
| د پس انداز حساب ته ۲۵۰۰۰۰ – ۲ | ۴۰۰۰۰۰ – ۱ له جاري حساب ځخه |
| د معاش مصارفو ته ۳۵۰۰۰ – ۳ | ۴۵۰۰۰۰ – ۲ د پس انداز له حساب ځخه |
| د پای بیلانس ۵,۱۰۷۵۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ – ۴ دټکټانې حاصلات |
| | ۵۰۰۰۰ – ۶ له کمیشن ځخه |
| | ۶۰۰۰۰ – ۷ له L/C ځخه |
| ۱۷۱۰۰۰۰ | ۱۷۱۰۰۰۰ |

د استهلاک مصارف

| C | D |
|---|---|
| ۵/۵۰۰۰۰ | ۱۰۰۰۰ د تعمیر استهلاک |
| مفاد او ضرر ته | ۴۰۰۰۰ د تجهیزاتو استهلاک |
| ۵۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ |

جاري حساب

| C | D |
|---|---|
| AB – ۸۰۰۰۰۰ | له نغدو ځخه ۲,۳۵۰۰۰۰ |
| نغدو ته ۴۰۰۰۰۰ – ۱ | د پای بیلانس ۵,۸۵۰۰۰۰ |
| ۱۲۰۰۰۰۰ | ۱۲۰۰۰۰۰ |

د پس انداز حساب

| D | C |
|---|---|
| له نغدو څخه ۲۵۰۰۰۰ – ۲ | AB – ۱۲۰۰۰۰۰ |
| د پای بیلانس ۵,۱۴۳۵۰۰۰ | له نغدو څخه ۴۵۰۰۰۰ – ۲ |
| | د تکتانې مصارفو ته ۳۵۰۰۰ – ۲ |
| ۱۶۸۵۰۰۰ | ۱۶۸۵۰۰۰ |

د داخلي بانک دارایي

| D | C |
|---|---|
| AB - ۶۰۰۰۰۰ | ۵,۶۶۰۰۰ |
| ۶۰۰۰۰–۵ دتکتانې له حاصلاتو څخه | د پای بیلانس |
| ۶۶۰۰۰۰ | ۶۶۰۰۰۰ |

د باندني بانک دارایي

| D | C |
|---|---|
| AB – ۹۰۰۰۰۰ | C/A ۲۰۰۰۰۰ – ۹ ته |
| | ۵,۷۰۰۰۰۰ د ختم بیلانس |
| ۹۰۰۰۰۰ | ۹۰۰۰۰۰ |

طلبات

| C | D |
|---|---|
| د پای بیلانس ۵,۵۴۰۰۰۰ | AB – ۴۰۰۰۰۰ |
| | له L/C ۱۴۰۰۰۰ – ۸ ثخه |
| ۵۴۰۰۰۰ | ۵۴۰۰۰۰ |

د معاش مصارف

| C | D |
|---|---|
| د پای بیلانس ۵۴۰۰۰ | ۳۵۰۰۰ – ۳ له نغدو ثخه |
| | ۵۰۰۰ د پرداخت وړ دیونو ثخه |
| ۴۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰ |

د پرداخت وړدین

| C | D |
|---|---|
| د معاش مصرف ته ۳/۵۰۰۰ | د پای بیلانس ۵/۵۰۰۰ |
| ۵۰۰۰ | ۵۰۰۰ |

د کمیشن حاصل

| C | D |
|---|---|
| نغدو ته ۵۰۰۰۰ – ۶ | ۵۵۰۰۰۰ مفاد او ضرر ته |
| ۵۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ |

L/c

| D | C |
| --- | --- |
| ختم ۲۰۰۰۰۰ | نغدو ته ۶۰۰۰۰ – ۷ |
| | طلباتو ته ۱۴۰۰۰۰ – ۸ |
| ۲۰۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ |

C-Aکوراکونت

| D | C |
| --- | --- |
| ۲۰۰۰۰۰ – ۹ | د پای بیلانس ۲۰۰۰۰۰ |
| له L/C څخه | |
| ۲۰۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ |

د ټکتانې حاصلات

| D | C |
| --- | --- |
| ۵/۱۱۰۰۰۰ | نغدو ته ۵۰۰۰۰ – ۴ |
| مفاد او ضرر | د داخلی بانک دارايي ته ۶۰۰۰۰ ۵ |
| ۱۱۰۰۰۰ | ۱۱۰۰۰۰ |

آزمایشی بیلانس ( Trial Balance )

| Debit | Credit | L/F | د حسابونو نوم |
|---|---|---|---|
| ۹۹۰۰۰۰ | | | د تعمیر د بیلانس حسابونه |
| ۳۶۰۰۰۰ | | | تجهیزات |
| ۵۴۰۰۰۰ | | | طلبات |
| ۱۰۷۵۰۰۰ | | | کسه |
| ۶۶۰۰۰۰ | | | د داخل بانکونه |
| ۷۰۰۰۰۰ | | | د خارج بانکونه |
| ۲۰۰۰۰۰ | | | Cover Account C/A |
| | ۱۴۰۰۰۰۰ | | سرمایه |
| | ۶۰۰۰۰۰ | | دیون |
| | ۸۵۰۰۰۰ | | جاري حساب |
| | ۱۳۴۵۰۰۰ | | د پس انداز حساب |
| | ۵۰۰۰ | | د پرداخت وړ دین |
| | ۲۰۰۰۰۰ | | Letter of Credit ( L/C ) |
| | ۵۰۰۰۰ | | نتیجوی حسابات:<br>د کمیشن حاصل |
| | ۱۱۰۰۰۰ | | د ټکټاني حاصلات |
| ۴۰۰۰۰ | | | د معاش مصارف |
| ۵۰۰۰۰ | | | د استهلاک مصارف |
| ۳۵۰۰۰ | | | د ټکټاني مصارف |
| ۴۶۵۰۰۰۰ | ۴۶۵۰۰۰۰ | | مجموعه |

د ټکټاني مصارف

| C | D |
|---|---|
| ۳۵۰۰۰ مفاد او ضرر ته | ۳۵۰۰۰ – ۲ |
| | له نغدو څخه |
| ۳۵۰۰۰ | ۳۵۰۰۰ |

مفاد او ضرر

| C | D |
|---|---|
| د کمیشن حاصل ۵۰۰۰۰ | ۴۰۰۰۰ د معاش مصرف |
| ټکټانه حاصلات ۱۱۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ د استهلاک مصرف |
| | ۳۵۰۰۰ د ټکټاني مصارف |
| | ۳۵۰۰۰ مفاد به سرمایه |
| ۱۶۰۰۰۰ | ۱۶۰۰۰۰ |

سرمایه

| C | D |
|---|---|
| AB – ۱۴۰۰۰۰۰ | ۵/۱۴۳۵۰۰۰ |
| ۳۵۰۰۰ | د پای بیلانس |
| مفاد او ضرر ته | |
| ۱۴۳۵۰۰۰ | ۱۴۳۵۰۰۰ |

| د بانک بیلانس شیټ | |
|---|---|
| ۲۹نیټه A     په ۱۲/ | P |
| ۹۹۰۰۰۰ تعمیر<br>۳۶۰۰۰۰ تجهیزات<br>۵۴۰۰۰۰ طلبات<br>۶۶۰۰۰۰ د داخلي بانک<br>۷۰۰۰۰۰ د باندني بانک<br>۱۰۷۵۰۰۰ کسه<br>L/C ۲۰۰۰۰۰ | سرمایه ۱۴۳۵۰۰۰<br>دیون ۶۰۰۰۰۰<br>جاري حساب ۸۵۰۰۰۰<br>پس انداز ۱۴۳۵۰۰۰<br>د پرداخت وړدین ۵۰۰۰<br>L/C ۲۰۰۰۰۰ |
| ۴۵۲۵۰۰۰ | ۴۵۲۵۰۰۰ |

تمرین: په یو بانکي شرکت کې د تیر کال د پای بیلانس د روان کال د افتتاحیه بیلانس په توګه و منل شو او د اړوندې دورې په ترځ کې لاندې معاملات تر سره شول:

**معاملات:**

۱. په ۱/۱ نیټه د بارچالانۍ د فعالیتونو له درکه د کمیشن حاصلات نغداً واخستل شول ۵۰۰۰۰ افغانۍ.
۲. په ۲/۱ نیټه د دیونو لپاره مصارف سنجش شویدي ۳۰۰۰۰ افغانۍ.
۳. په ۱۰/۱ نیټه د L/C شعبې د راپور په اساس د اسعاري او خدماتي کمیشن حاصلات نغداً تر لاسه شویدي ۲۵۰۰ افغانۍ
۴. په ۲۰/۱ نیټه د L/C ټکټاني حاصلات نغداً ٪۱۰حاصل شویدي ۴۶۶۶/۶
۵. په ۲۵/۱ نیټه د L/C اړوند طلب نغداً حاصل شویدی، ۱۴۰۰۰۰ افغانۍ.
۶. په ۲۹/۱ نیټه د مزد او معاش تادیات نغداً اجرا شویدي ۱۵۰۰۰ افغانۍ.
۷. د L/C شعبې د راپور په اساس د C-A مبالغ پلورونکي ته تادیه شویدي او اخستونکي د کمیشن له تادیې وروسته خپل جنس تر لاسه کړیدی او L/C حساب تصفیه شوی دی.
۸. د لاندې حساب جریان چمتو او ترتیب کړئ!

۱-  د بانک د ژورنال د دفتر ترتیب.

۲-  د لیجر د دفاترو ترتیب.

۳-  د بانک د مفاد او ضرر حساب او سیډني شیټ.

د ۱۳۸۷ کال د پای بیلانس

د روان کال ۱۳۸۸ د اختتامیه بیلانس په لاندې ډول دی:

د ملي بانک افتتاحیه بیلانس

په ۱/۱/۸۸ نیټه

سرمایه او قرضونه دارایي

| P | | A | |
|---|---|---|---|
| سرمایه | ۱۴۳۵۰۰۰ | تعمیر | ۹۹۰۰۰۰ |
| دیون | ۶۰۰۰۰۰ | تجهیزات | ۳۶۰۰۰۰ |
| جاري حساب | ۸۵۰۰۰۰ | طلبات | ۵۴۰۰۰۰ |
| د پس انداز حساب | ۱۴۳۵۰۰۰ | د داخلي بانک دارایي | ۶۶۰۰۰۰ |
| د پرداخت وړدین | ۵۰۰۰ | د باندني بانک دارایي | ۷۰۰۰۰۰ |
| L/C | ۲۰۰۰۰۰ | کسه | ۱۰۷۵۰۰۰ |
| | | C/A | ۲۰۰۰۰۰ |
| | ۴۵۲۵۰۰۰ | | ۴۵۲۵۰۰۰ |

د ژورنال په دفتر کې د معاملاتو درج

| شمېره | تاریخ | تفصیلات | L/F | کریدت | دبت |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱/۱ | کسه<br>د کمیشن حاصلات | | ۵۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ |
| ۲ | ۱/۱ | دټکټاني مصارف<br>دیون | | ۳۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰ |
| ۳ | ۱۰/۱ | کسه<br>د کمیشن حاصل خدماتی اسعار | | ۲۵۰۰ | ۲۵۰۰ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | ۲۰/۱ | کسه<br>دټکټاني حاصلات | | ۴۶۶۶/۶۷ | ۴۶۶۶/۶۷ |
| ۵ | ۲۵/۱ | کسه<br>طلبات | | ۱۴۰۰۰۰ | ۱۴۰۰۰۰ |
| ۶ | ۲۹/۱ | د مزد ومعاش مصارف<br>کسه | | ۱۵۰۰۰ | ۱۵۰۰۰ |
| ۷ | ۲۹/۱ | L/C<br>C/A | | ۲۰۰۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ |

د لیجر د دفاترو تهیه او ترتیب:

کسه

| B | A |
|---|---|
| | AB – ۱۰۷۵۰۰۰ |
| ۲۹۱۱ د مزد مصارفو ته ۱۵۰۰۰-۶ | ۵۰۰۰۰ – ۱ د کمیشن حاصلات 1/1 |
| | ۲۵۰۰ – ۳ د اسعاري او خدماتي کمیشن حاصلات ۱۰/۱ |
| | ۴۶۶۶/۶۷ – ۴ د ټکټانې حاصلات |
| د ختم بیلانس ۱۲۵۷۱۶۶۶/۶۷ – ۵ | ۲۰/۱ |
| | ۱۴۰۰۰۰ – ۵ طلبات |
| ۱۲۷۲۱۶۶/۶۷ | ۱۲۷۲۱۶۶/۶۷ |

طلبات

| C | D |
|---|---|
| ۲۵/۱ کسه ۱۴۰۰۰۰ – ۵ | AB – ۵۴۰۰۰۰ |
| ۴۰۰۰۰۰ – ۵<br>د ختم بیلانس | |
| ۵۴۰۰۰۰ | ۵۴۰۰۰۰ |

دیون

| D | C |
| --- | --- |
| ۶۳۰۰۰۰ – ۵د ختم بیلانس | AB – ۶۰۰۰۰۰ |
| | ۳۰۰۰۰ – ۲ |
| | د ټکټاني مصارف |
| ۶۳۰۰۰۰ | ۶۳۰۰۰۰ |

د ټکټاني مصارف

| D | C |
| --- | --- |
| ۳۰۰۰۰ – ۲ دیون ۱/۱ | ۳۰۰۰۰ مفاد اوضرر ته |
| ۳۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰ |

د فرد مزد مصارف

| D | C |
| --- | --- |
| ۱۵۰۰۰ – ۶ کسه ۲۹/۱ | ۱۵۰۰۰ – ۵ د پای د بیلانس مفاد |
| | او ضرر |
| ۱۵۰۰۰ | ۱۵۰۰۰ |

تعمیر

| D | C |
| --- | --- |
| AB – ۹۹۰۰۰۰ | ۹۹۰۰۰۰ – ۵ |
| | د پای بیلانس |
| ۹۹۰۰۰۰ | ۹۹۰۰۰۰ |

### تجهیزات

| D | C |
|---|---|
| AB – ۳۶۰۰۰۰ | ۵ – ۳۶۰۰۰۰ |
| | د پای بیلانس |
| ۳۶۰۰۰۰ | ۳۶۰۰۰۰ |

### د داخلي بانک دارایي

| D | C |
|---|---|
| AB – ۶۶۰۰۰۰ | ۵ – ۶۶۰۰۰ |
| | د پای بیلانس |
| ۶۶۰۰۰۰ | ۶۶۰۰۰۰ |

### د باندني بانک دارایي

| D | C |
|---|---|
| AB – ۷۰۰۰۰۰ | ۵ – ۷۰۰۰۰۰ |
| | د پای بیلانس |
| ۷۰۰۰۰۰ | ۷۰۰۰۰۰ |

### جاري حساب

| D | C |
|---|---|
| ۵ – ۸۵۰۰۰۰ | AB – ۸۵۰۰۰۰ |
| د پای بیلانس | |
| ۸۵۰۰۰۰ | ۸۵۰۰۰۰ |

د پس انداز حساب

| C | D |
|---|---|
| AB – ۱۴۳۵۰۰۰ | ۵ – ۱۴۳۵۰۰۰<br>د پای بیلانس |
| ۱۴۳۵۰۰۰ | ۱۴۳۵۰۰۰ |

L/C

| C | D |
|---|---|
| AB - ۲۰۰۰۰۰ | ۲۹/۱ ۷ – ۲۰۰۰۰۰<br>تصفیه ختم |
| ۰ | ۰ |

C/A

| C | D |
|---|---|
| ۲۹/۱ ۷ – ۲۰۰۰۰۰<br>تصفیه ختم | AB - ۲۰۰۰۰۰ |
| ۰ | ۰ |

د ټکټاني حاصلات

| C | D |
|---|---|
| ۴۶۶۶/۶۷ – ۴ نغدو ته ۲۰/۱ | ٤٦٦٦/٦٧ – ٥ مفاد و ضرر |
| ۴۶۶۶/۶۷ | ۴۶۶۶/۶۷ |

د کمیشن حاصلات

| C | D |
|---|---|
| ۵۰۰۰۰ – ۱ ۱/۱ نغدو ته | ۵۲۵۰۰ – ۵ |
| نغدو ته ۱۰/۱ ۲۵۰۰ – ۳ | د پای بیلانس |
| ۵۲۵۰۰ | ۵۲۵۰۰ |

مفاد او ضرر

| C | D |
|---|---|
| تکتانه حاصلات ۴۶۶۶/۶۷ | ۱۵۰۰۰ د مزدمصارف |
| د کمیشن حاصلات ۵۲۵۰۰ | ۵۰۰۰۰ دټکټاني مصارف |
| | ۱۲۱٦٦/٦۷ – ۵ سرمایه |
| ۵۷۱۶۶/۶۷ | ۵۷۱۶۶/۶۷ |

سرمایه

| C | D |
|---|---|
| AB – ۱۴۳۵۰۰۰ | ۵ – ۱۴۴۷۱۶۶/۶۷ |
| ۱۲۱۶۶/۶۷ | د پای بیلانس |
| مفاد | |
| ۱۴۴۷۱۶۶/۶۷ | ۱۴۴۷۱۶۶/۶۷ |

د بانک بیلانس شیټ

سرمایه او بدهی — بتاریخ ۳۰/۱ — دارایی

| P | | A | |
|---|---|---|---|
| سرمایه | ۶۷ .۱۴۴,۷۱۶,۶ | تعمیر | ۹۹۰۰۰۰ |
| دیون | ۶۳۰۰۰۰ | تجهیزات | ۳۶۰۰۰۰ |
| جاری حساب | ۸۵۰۰۰۰ | طلبات | ۴۰۰۰۰۰ |
| د پس اندازحساب | ۱۴۳۵۰۰۰ | د داخلي بانک دارايي | ۶۶۰۰۰۰ |
| د پرداخت وړ دیوان | ۵۰۰۰ | د خارجي بانک دارايي | ۷۰۰۰۰۰ |
| | | کسه | ۱۲۵۷۱۶۶ |
| | ٤۳۸۷۱٦٦,٦۷ | | ٤۳۸۷۱٦٦,٦۷ |

**د درېيم څپرکي د مطالبو لنډيز:**

بانکونه د مشتريانو د غوښتنو مطابق د بيلابيلو حسابونو د پرانستنې له لارې د خلکو امانات او پولي وجوه را ټولوي، چې د  حسابونو مهم ډولونه يې په لاندې توګه دي:

- جاري حساب.
- د پس انداز حساب.
- د معيادي امانت حساب.
- بانکي باورليک( L/C )

ياد شوي حسابونه د معينو شرايطو لاندې د مشتري او بانک د موافقې له مخې پر انيستل کېږي. جاري حساب له هغه امانت څخه عبارت دی چې کومه ګټه نلري او مشتريان له چک څخه د استفادې په توګه خپل حساب برداشت کوي.

د پس انداز حساب يوه معينه ربحه يا ګټکټانه لري.

د معيادي امانت حساب ربحه له يوه معين وخت سره ورکول کېږي. دغه وخت ممکن درې، څلور مياشتې او يا تر دغه هم اوږد وخت وي. پدې صورت کې د حساب له اخېستلو ترمخه بانک ته د مشتري له لوري خبر ورکول کېږي.

بانکي باورليک يو سند دی، چې په نړيوال تجارت کې غښتلی رول لري ، پدې صورت کې د تاجرانو لپاره د دوو هيوادونو د بانکونو په وساطت تجارانو ته د تجارتي معاملې د ترسره کيدلو اسانتيا برابرېږي. چې مهم اسناد يې له Bill of Loading او Invoice او داسې نورو څخه عبارت دي.

همدا شان باورليک دنړيوالو شرايطو لرونکی وي . د عمومي محاسبې شعبه  د مفاد او ضرر حساب او د بيلانس شيټ چمتو کوي.

## د دریيم فصل پوښتنې:

۱- د بانکي حسابونو نومونه واخلئ؟

۲- په یوه جاري حساب کې لاندې معاملات منځته راغلي دي:

a. په ۲/۱۲ نیټه د حساب پرانستنه مبلغ ۴۰۰۰۰

b. په ۵/۱۲ نیټه پرداخت مبلغ ۲۰۰۰۰

c. په ۱۵/۱۲ نیټه برداشت مبلغ ۱۵۰۰۰

d. په ۲۰/۱۲ نیټه برداشت مبلغ ۵۰۰۰

e. په ۲۹/۱۲ نیټه پرداخت مبلغ ۵۰۰۰۰

یاد شوي معاملات د ژورنال په یوه دفتر کې ثبت کړئ ؟

۳- احمد له ۶۰۰۰۰ افغانیو سره د ټکټانې په ۹٪ نرخ باندې له دریو میاشتو راهیسې یو معیادي حساب پرانستی دی، د سرمایې مقدار او ربعه یې سنجش کړئ؟

۴- دبانکي باورلیک د پرانیستلو شرایط واضیح کړئ؟

۵- د بانکي اعتبار نامې ډولونه بیان او تعریف کړئ؟

۶- د اینوایس (Invoice)په باره کې معلومات ولیکئ؟

۷- د سیف ( C. I. F ) کلمې دکومې اصطلاح مخفف ده او تر دغو شرایطو لاندې د امتعې استول توضیح کړئ؟

۸- لاندې معاملات د ژورنال په دفتر کې ثبت کړئ؟

a. د مشتریانو د تادیاتو سرجمع۱۰۰۰۰۰ افغانۍ

b. د مشتریانو د برداشت سر جمع ۸۰۰۰۰۰ افغانۍ

## سرچینې او اخیستنې:


۱- بانکداری اثر پوهندوی سید مسعود جوزای سال ۱۳۸۶
۲- بانکداری  مدرن و عصری لکچر نوت پوهنځی اقتصاد دیپارټمنت مالی
۳- محاسبه بانکی : چپتر نوت تخنیکم مالی و اقتصادی دیپارټمنت محاسبه به راهنمایی استاد محترم ظهور سال ۱۳۷۰
۴- چپتر نوتهای کورس های آموزشی بانکهای تجارتی خصوصی
۵- انواع مختلف مجله ها و نشریه های د افغانستان بانک و پشتنی بانک سالهای ۱۳۸۷-۱۳۸۶
۶- راپور فعالیت های یک بانک تجارتی سال ۱۳۸۴
۷- اصولنامه تجارت افغانستان سال (۱۳۸۳) ۱۳عقرب

## د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام

د پوهنې وزارت د مسلکي او تخنیکي زده کړو د معینیت د تعلیمي نصاب د پراختیا رد پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت دښوونیز نصاب د انکشاف ریاست د ټولنې دعیني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلینو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې یې تخنیکي او مسلکي رشتې درلودې او لري یې، په لومړي سرکې یې تصمیم ونیو، چې په ښوونیزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بیاکتنه وکړي او ورپسې بیا د شاګردانو او محصلینو د درسي کتابونو د تالیف لپاره مبادرت او کوښښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د ښوونکو په میړانې او همت سره د ادارې او حسابدارۍ درسي کتابونه تالیف شول تر څو په وړیا ډول د شاګردانو او محصلینو په واک او اختیار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوستونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شاګردانو او د تخنیکي او مسلکي زده کړو د چارو له متخصصینو او همدا شان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صمیمانه هیله کیږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښوونکو او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د مسلکي غړو له لوري تالیف او تدوین شوي دي. د مسلکي، تخنیکي او علمي مطالبو او مفاهیمو د څرنګوالي په هکله خصوصاً د هغوی املایي او انشایي اشتباهاتو په اړهمونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخوکې ګرانو شاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شان له ګرانو شاګردانو او محصلینو څخه هیله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او استفادې پر مهال د هیواد اقتصادي ستونزې، فقر او وروسته پاتې والی په نظرکې ونیسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زیار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلینو د ګټې وړ وګرځي.

پته: دپوهنې وزارت – دتخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت د تعلیمي نصاب د انکشاف ریاست – دکتابونو د تالیف او د درسي ممدو موادو د برابرولو عمومي مدیریت.